نهمه ګڼه

سپتمبر

۲۰۲۵ز



Ketabton.com

# الرسالة

Al-Risala

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرسالة

## Al-Risala

نهمه ګـــڼه – سپتمبر، ۲۰۲۵ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| عنوان | مخ |
|---|---|
| محمدي نبوت | ۷ |
| د خارجي هدایت اړتیا | ۱۴ |
| د اسلامي علومو تدوین | ۱۸ |
| د ستورو دنیا | ۲۷ |
| د تاریخ مطالعه | ۳۲ |
| اوسنی مسیحي مذهب | ۴۲ |
| خدای – د انساني فطر اواز | ۴۷ |


او نور ډېر څه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قبر

قبر د بلې دنیا دروازه ده. په مونږ کې هر یوه د یو څه نـه یـو څه لپاره د دې دروازې واز پېدل او ورپسې پورې کېدل په خپلو سترګو لیدلي دي. خو په مونږ کې ډېر کم خلک داسـې دي، چې په دې پوهېږي، چې پخپله د ده لپاره به هـم یـوه ورځ دا دروازه واز پېږي او بیا به هماغه پسې وتړل شي، په څه راز چې په نورو پسې د تل لپاره تړل شوې ده.

د انسان ذهنیت څومره عجیـب دی، چې هـره ورځ د نـورو مرګ ویني. خو پخپله داسې ژوند کوي، ته وا، د تل لپـاره به یې په دې دنیا کې استوګنه وي. دی پـه خپلو سـترګو ګوري، چې هـره ورځ خلـک یـو پـه یـو د خـدای مخـې تـه د حاضرېدو لپاره غوښتل کېـږي. خـو ده خپـل ځان داسـې بېـل نیـولی وي، چـې ګـواکې د خـدای پـه عـدالت کـې د حاضرېدو دا ورځ د ده لپاره هېڅ کله هم نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د کار په حقیقي ډګر کې انسان ناکام پاتې دی،

## او په مصنوعي ډګر کې د بریا بیرغونه رپوي

په امریکا کې د بشري حقونو تر عنوان لاندې نړیوال سیمینار وي، تاسې ته یې بلنلیک راشي، تاسې په الوتکه کې امریکا ته ورسېږئ او هلته په پرتمین دریځ باندې یو لیکلی متن تکرار کړئ. نو دا خبر به سمدستي په ورځپاڼو کې خپور شي. خو د دې بالعکس که په تاسې کې د آخرت وېره وي. او د دوزخ د اندېښنې له مخې د خلکو حقونه مراعتوئ، نو دا پېښه به هېڅ کله د ورځپاڼو سرټکی نه شي.

وروستی پېښه، د کار حقیقي ډګر دی. لومړنی پېښه، د کار مصنوعي سطحه ده. نن ورځ وضیعت داسې دی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر انسان، مذهبي وي که غیرمذهبي، د کار په مصنوعي سطحه کې شپې ورځې تېروي. انسان په هغو کارونو کې خو ښې کارنامې ښکاره کوي، چې «خبري ارزښت» لري، چې د ده یو امیج پرې جوړېږي، چې د عزت او درناوي هرکلی په کې ترلاسه کېږي، چې د حق د علمبرداري کریډیټ په کې حاصلېږي، چې ده ته په اخبارونو کې د سرخط په برخه کې ځای ورکوي. د مصنوعي سطحې زرق و برق خلک دومره ځان ته ورجذب کړي دي، چې د کار حقیقي سطحې ته د توجه کولو دپاره له هیچا سره فرصت نشته.

بلې خواته د خلکو حال دا دی، چې که مو کومه معامله ورسره راشي، نو دوی به په کې خام خېژي، له چاسره مو اختلاف پیدا شي، نو د انصاف لمنه نه شي ټینګولی، که یې تېروتنې د رڼا ورځې غوندې څرګندې وي، بیا یې هم اعتراف نه کوي. یو مظلوم له دوی نه د بې‌پرې پرېکړې تمه نه شي کولی. د خدای ښکاره نښانې به څرګندې شي، خو دوی به عبرت ورنه وانه خلي. خپل زړه به له حسد، بغض، کینې، کرکې او تعصب نه پاک نه کړي. د زور په مقابل کې به سر ټیټ کړي، خو د دلیل په وړاندې ټیټېدو ته به اماده نه شي. د خدای آیتونه به واوري، خو زړونه به یې نه لړزېږي او د اخرت د ځوابګویې له وېرې به یې د بدن وېښته نه درېږي.

خلک د کار په مصنوعي ډګر کې د بریا بیرغونه رپوي. او د کار په رښتیاني ډګر کې د ناکامي په کنده کې پراته دي. د غونډو او کنوانسیونونو غور ماغور دی، د جهاد او انقلاب نعرې دي. خو بل لوري ته د خاموشۍ رغونې ټول ډګر تش پروت دی او هېڅ څوک ورته نه راهسکېږي.

---

## د اسلام دعوت څه دی؟

**د اخرت خبرداری. د قبر د بلې غاړې له معاملاتو نه له قبر نه د دې غاړې خلکو خبرول د اسلام دعوت دی. د اسلام داعي د مرګ او ژوند په منځ کې ولاړ وي. داعي له مرګ نه دمخه مړ شوی وي، تر څو د بلې غاړې دنیا وګوري او د مړو له احوالو ژوندي خبر کړي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمدي نبوت: په انسانيت يوه ستره لورينه

د بعثت د ابتدايي زماني واقعه ده. د عرب قبيلې يو شخص د کعبې د زيارت لپاره مکې ته راغلی و. دی چې بېرته ستون شو، نو د قبيلې خلکو ورنه وپوښتل، چې د مکې څه احوال راته ووايه. هغه ځواب ورکړ: «**محمد تنبّأ و تبعه ابن ابي قحافة**» **محمد د پيغمبرۍ دعوه کړې ده او د ابو قحافه زوی يې ملګری شوی دی.**

له دې معلومېږي، چې په ٦١٠ز کې چې کله نبي کريم ص د نبوت اعلان وکړ، نو په دې وخت کې د خلکو په ذهن کې د هغه مبارک تصوير څه ډول و. مخالفينو به په دې زمانه کې نبي کريم ص ته **ابن ابی کبشه** ويل، چې معنا يې وه، د پلاني کليوال زوی. که به چا په ډېره درنه ژبه خبره کوله نو ويل به يې **فتی من قريش**، يعنې د قريشو د قبيلې يو ځوان.

د اسلام د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دا حال په خپله زمانه کې و. خو پېړۍ چې واوښتې، اوس وضيعت بالکل په بل ډول دی. په دې چې اوس د پيغمبر عليه السلام نبوت کومه نزاعي مسئله نه ده، بلکې اوس يې نبوت يو منلی واقعيت (Established Fact) ګرځېدلی دی. نن ورځ چې يو شخص وايي «محمد رسول الله»، نو په ذهن کې يې د يوه داسې پيغمبر تصور راټوکېږي، چې شاوخوا ته يې يو عظيم‌الشان تاريخ جوړ دی او تر شا يې د يو نيم زر کلونو رښتياني عظمتونه ولاړ دي. که داسې وشي، چې دا تاريخ له نبي کريم ص څخه په مکمله توګه لرې کړای شي او عربي پيغمبر بېرته د «**ابن ابی کبشه**» په بڼه رابښکاره شي، نو په دې کې يوه ذره شک هم نشته، چې په نبي کريم ص باندې د ايمان لرونکو شمېر چې نن ورځ په ميليونونو کې دی، فقط تر لسګونو پورې به محدود

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شي. د «**ابن ابی کبشه**» په څېره کې د خدای د رسول پېژندل خورا ډېر مشکل کار دی. حال دا چې همدا کار هغه وخت خورا اسانه دی، چې کله رسول یو منلی تاریخي حیثیت یا د قرآن په ټکو کې د **مقامِ محمود** (**اسراء: ۷۹**) درجه ترلاسه کړې وي.

په تېرو دورو کې د نبیانو د هم مهاله خلکو لپاره له خپل پیغمبر نه د انکار کولو تر ټولو لویه ارواییي وجه همدا وه. «دا خو هماغه معمولي سړی دی، چې تر پرونه پورې مو پلانی د پلاني زوی په حیث پېژانده، دی ناڅاپي د خدای پیغمبر څنګه شو؟» هرکله به چې یو پیغمبر راپورته شو، نو دې فکر به یو ډول د شک او تردد په څېر د قوم په ذهن کې ځای ونیوه، او د نبي د پیغمبرانه حیثیت د پېژندو په برخه کې به یې د معاصرینو لپاره یو مشکل پیدا کړ.

دې وضعیت، د خاتم النبین تر راتلو دمخه بشر په یوه ډېر سخت امتحان کې اخته کړی و. هر ځل به چې د انسانانو په منځ کې یو نوی شخص د خدای د رسول په حیث راپورته شو، نو د مخاطب قوم اکثریت به د پاسنی ارواییي غوټې له امله د خپل هم‌مهاله پیغمبر په هکله په شک او تردد کې ولوېده او له پیغمبر نه به یې انکار وکړ او بلاخره د سنت الله سره سم هغه قوم به هلاک کړای شو.

اوس الله تعالی پرېکړه وکړه، چې یو داسې پیغمبر واستوي، چې د ټولې دنیا لپاره د رحمت دروازه پرانیزي. د هغه شخصیت د تېرو پیغمبرانو په څېر خلک په دې امتحان کې وانه چوي، چې «معلومه نه ده، چې واقعي پیغمبر دی یا خپلې شخصي انګېزې دې ډول دعوې ته هڅولی دی.» د ده نبوت به د هر دور د خلکو لپاره د یوه منلي واقعیت حیثیت لري. خلک به بې له دې چې په ارواییي غوټه کې اخته شي، د هغه د «محمودیت» له مخې دی وپېژني او پر هغه باندې د ایمان له لارې به د خدای په رحمتونو کې برخمن شي.

له ګڼو روایتونو معلومېږي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې، زما امتیان به د نورو ټولو انبیاوو له امتیانو نه زیات وي. د دې خبرې تعلق په دې مسئلې پورې هم دی، چې له محمد ص نه وروسته بل پیغمبر نه راځي، نو ځکه د ده په امت کې به تر ده وروسته د کفر او اسلام مسئله بیاځلې سر نه راهسکوي او د نبي کریم ص امت به په دوامداره ډول زیاتېږي، تر دې چې قیامت به راشي.

په دې خبره باندې د بني اسرائیل په یوه مثال سره ځان پوهولی شو. د حضرت مسیح په زمانه کې چې کوم یهود وو، هغوی ټولو د خدای په شریعت باندې ایمان درلوده، ټول د حضرت موسی امتیان وو. خو د ابن مریم په بڼه چې کله په هغوی کې یو پیغمبر راپورته شو، نو د یهودو لپاره د دې نوي پیغمبر منل ممکن نه شوو. هغوی حضرت موسی ع اوس هم مانه، مګر له خپل هم‌عصر پیغمبر نه یې انکار کاوه. په دې وجه له یوه ډله عیسوي مؤمنانو پرته، ټول له یوه سره یهودي کافران شول. له حضرت مسیح نه شپږ سوه کاله وروسته چې کله عربي نبي مبعوث شو، نو د مسلمانانو د دې نوې ډلې «عیسویانو» شمېر ډېره زیاته وده کړې وه. خو یو ځل بیا هماغه څه وشول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ياني د نوي «اسماعيلي پيغمبر» د منلو لپاره يې خپل ځان اماده نه شو کړای. هغوی په تاريخي نبي (حضرت مسيح ع) باندې تر اوسه پورې ايمان درلوده. خو له خپل هم‌عصر پيغمبر (حضرت محمد ص) نه منکر وو. له دې امله يو ځل بيا داسې وشول، چې په محمدي نبوت باندې له ايمان راوړونکو يو څو عيسويانو نه پرته ټول عيسوي قوم کافر وګڼل شو.

د نبوت د درېدو له امله به په محمدي امت کې دغه راز تقسيم لږ تر لږه په اوسنۍ دنيا کې بياځلې ونه شي. نو ځکه به د پيغمبر عليه اسلام د امتيانو شمېر هم د نورو انبياوو له پيروانو نه ډېر وي. دا هم د نبي کريم ص د رحمة للعالمين کېدو يو اړخ دی، چې له دې امله ورکول شوی دی، چې الله تعالی نبي کريم ص ته محمود مقام وربښلی دی. په دنيوي اعتبار محمود مقام دا دی، چې د نبي کريم ص نبوت د ټولې دنيا لپاره يو تاريخي واقعيت وګرځول شو. او دغه محمودي حيثيت به د قيامت په ورځ د خدای د ځانګړي اکرام او اعزاز په شکل کې ښکاره شي، چې په ړومبنيو او وروستنيو کې به له نبي کريم ص پرته هيچا ته هم نه ورکول کېږي.

خو يو پيغمبر په محمود مقام درول، په ساده ټکو کې مازې د انتخاب سودا هم نه وه، بلکې د يوه نوي تاريخ د ليکلو معامله وه. د دې لپاره له يوه اړخه داسې شخصيت پکار و، چې بل هېڅ داسې شخصيت د ادم په اولاده کې نه وي پيدا شوی. او بل لوري ته داسې قرباني او ځان‌سپارنه ورته پکار وه، چې د دغسې قرباني او ځان‌سپارنې ثبوت بل هېڅ انسان نه وي ورکړی. همدا هغه نازکه شبېه وه، چې خدای خپل بنده ته غږ کړل، «يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ. قُمْ فَأَنذِرْ ... وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ.» او په څادر کې نغښتې دې سترې اروا د لبيک په نعرې سره خپل ځان په بشپړه معنا دې رسالت ته وسپاره. بيا د اوږدو هلو ځلو په پايله کې بلاخره هغه نبوت منځته راغی، چې د ټول عالم لپاره رحمت وګرځېده، او په انساني تاريخ کې يې د انبياوو د بيابيا راتلو ازمايښتي دور ته د پای ټکی کېښود او د يوه منل شوي نبوت په مټ يې د خلکو لپاره د خدای په رحمتونو کې ډېله، ډېله د ننوتو لپاره دروازه وازه کړه.

نبوت ته د تاريخي واقعيت د حيثيت ورکولو بله معنا دا وه، چې په اينده کې به د انبياوو د راتلو لړۍ بنده شي. خو دا مازې د اعلان خبره نه وه. د نبوت د لړۍ له ختمولو مخکې ضرور و، چې څو لازمي شرطونه بشپړ شوي وي:

۱- د ژوند د ټولو معاملاتو لپاره د الهي احکامو نازلېدل (**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ**)

۲- د انساني کردار لپاره يوه کامله نمونه مخې ته راتلل. (**لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ**.)

۳- د الهي وحي د دايمي حفاظت چاره کول. (**نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ**)

الله تعالی د خپلې يوې پرېکړې له لارې درې واړه شرطونه بشپړ کړل.

د تېرو نبيانو لپاره د الله سنت دا پاتې شوی دی، چې هر نبي ته به ځينې آياتونه (معجزې) ورکول کېدې. نبي به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل مخاطب قوم کې د تبلیغ او دعوت فریضه تر وروستي بریده سرته رسوله. د خپلو خارق العاده نښانو په ذریعه به يې د دې ثبوت وړاندې کاوه، چې دی الهي استازی دی. خو په دې سربېره به هم چې خلکو ایمان نه راووړ، نو د نبي کار او مسؤلیت به ختم شو. اوس به د الله تعالی پرښتې په حرکت راغلې او د ځمکني یا اسماني عذاب په مټ به يې هغه قوم هلاک کړ.

د وروستي پیغمبر لپاره د الله تعالی پرېکړه دا شوه، چې د ده په مخاطب قوم به دغه راز عذاب نه راځي. بلکې پخپله د پیغمبر او د هغه له ملګرو سره يې به مخامخوي او دې ته به يې مجبوروي، چې الهي دین ته غاړه کېږدي (**تقاتلونهم او یسلمون**). په دې سربېره هم چې کوم خلک اطاعت ونه کړي، نو هغوی به د مؤمنانو په تورو وژل کېږي (**قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّهُ بِأَيْدِيكُمْ**). په نورو ټکو کې دا چې پخوا به دا کار پرښتو کاوه، خو دا ځل به د انسانانو په لاس ترسره شي.

د همدې الهي فیصلې نتیجه وه، چې له هجرت او د حجت له تماملو وروسته، د نورو انبیاوو د قومونو بالعکس په عربو باندې کوم غر ونه چاودېده او نه له اسمانه پرې اور راووربده. بلکې له رسول الله او د هغه له ملګرو سره مخامخ کړای شول. په دې وسله واله نښته کې د الله تعالی د ځانګړي نصرت په مټ د رسول الله او اصحابو بریا په برخه شوه او د خدای دین د یوه منظم دولت په حیث په عربي ټاپووزمه کې قایم شو.

د دې پېښې له راز راز نتایجو څخه یوه نتیجه دا وه، چې د نبوت دعوت، له انفرادي تقاضاوو نه تر اجتماعي معاملاتو پورې د ژوند له ټولو پړاوونو راتېر شو او د انساني ژوند د ټولو اړخونو لپاره مسلسل احکام رانازل شول. که دا پېښې نه وای شوې، نو په اسلامي شریعت کې هر ډول احکام نه شوی نازلېدی. په دې چې د الله سنت دا دی، چې خپل احکام د حالاتو مطابق رااستوي. داسې نه کېږي، چې د کتابي ټولګې په بڼه په یو وار ټول احکام ولیکل شي او راواستول شي. د پرښتو په لاس د عربو منکرینو د استیصال په ځای د اهل ایمان په توره د هغوی د لاندې کولو پرېکړې د دین د بشپړېدو اسباب پیدا کړل.

بیا له همدې امله دا امکان پیدا شو، چې پیغمبر د ژوند له ډول، ډول حالاتو سره مخ شي او په هر راز فعالیتونو کې د دې اسلامي کردار عملي نمونه وښودل شي. تر دې وروسته پخپله د حالاتو د تقاضا له مخې داسې وشول، چې پیغمبر له جومات او کور نه نیولې، د جګړې په ډګر او د واک په ګدۍ باندې هر ځای ودرېده او په هر ځای کې يې د معیاري انساني کردار څرګند کړ او تر قیامته پورې يې د خلکو لپاره نمونه پرېښودله.

بیا همدې پېښې د قرآن کریم د حفاظت شکلونه هم پیدا کړل. تېر اسماني کتابونه چې خوندي پاتې نه شول، نو وجه يې دا وه، چې له پیغمبر نه وروسته د هغو کتابونو په شا کې هېڅ داسې ځواک پاتې نه شو، چې د زور له لارې د کتابونو د ضایع کېدو مخه ونیسي. د اسلام پیغمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ملګرو يې له خپلو هممهاله قومونو سره مقابله وکړه او لومړی په عربي ټاپووزمه او بيا يې د لرغونې دنيا په لويه حصه باندې د اسلام غلبه رامنځته کړه. په دې سره الهي کتاب د حکومتي اقتدار سيورى وموندە، چې د خداى د کتاب د خونديتوب يقيني ضامن و. دا انتظام دومره ځواکمن و، چې تر زرو کلونو پورې يې هېڅ فرق ونه ليده. د اسلامي اقتدار تر سيوري لاندې قرآن له يوه نسل نه بل نسل ته انتقالېده، تر دې چې صنعتي انقلاب پېښ شو او د چاپ عصر راغی، چې تر دې وورسته د قرآن د ضايع کېدو هېڅ سوال نه پيدا کېږي.

دا هر څه چې وشول، داسې په مزه، مزه نه دي شوي، څرنګه يې چې نن ورځ موږ د سيرت او تاريخ په کتابونو کې لولو. د دې لپاره پيغمبر او ملګري يې له نه زغمونکو توپانونو څخه تېر شوي دي. د کفارو د غوښتنې او د نبي کريم په خواهش سربېره، پيغمبر ته هېڅ فوق الفطري معجزې نه دي ورکول شوې. پايله يې دا شوه، چې هغوی اړ شول، چې خپل اخلاق او کردار په معجزاتي واقعاتو بدل کړي. د پيغمبر د تکذيبوونکو لپاره د ځمکې او اسمانونو عذاب نه دی راغلی. له دې امله دوی په هغو کارونو لاس پورې کړ، چې د هغو لپاره به زلزلې راتللې او اتشفشانونه به چاودېدل. د نبوت د درېدو له فيصلې سره، سره بشپړ کتاب په يوه وار نه دی ور سپارل شوی. د دې لپاره اړتيا شوه، چې دوی د ژوند په پراخه سيندونو کې غوپې ووهي او له هر راز غرونو سره سر وجنګوي، تر څو د ژوند د ټولو معاملاتو په هکله پر دوی الهي احکام نازل شي. او داسې نور.

د دې ټول بهير په جريان کې پيغمبر ص او ملګري يې د امتحان په هغه سخت معيار کې وو، چې په قرآن کريم کې ورته زلزال شديد (**احزاب: ۱۱**) ويل شوي دي. نبي کريم ص ته ډېر سخت امر و، چې د ظالمانو په لور لږ غوندې هم مه ور کږېږه (**اسراء: ۷۵**)، که نه وي سزا به درکول شي. حالات چې هر څومره ستونزمن وي، د پيغمبر د ملګرو لپاره په هېڅ حال کې هم د تخلف يا بېرته پاتې کېدو (**توبه: ۱۲۰**) اجازه نه وه. که د پيغمبر ص بيبيانې دوه وخته ډوډۍ هم وغواړي، نو د هغوی لپاره رټ ځواب دا و، چې د پيغمبر په صحبت او دنيوي ژوند کې يو شی غوره کړئ (**احزاب: ۲۸**).

حقيقت دا دی، چې محمودي نبوت ته واقعيت ببښل د انساني تاريخ تر ټولو پېچلې طرحه وه. او دا هر څه په دومره قيامت وشول، چې پخپله د رسول الله له خولې ووتل، چې «په دې لاره کې زه دومره وځورول شوم، چې بل هېڅ پيغمبر دومره نه دی ځورول شوی.» د پيغمبر عليه السلام مېرمنې ګواهي ورکړه، چې پيغمبر عليه السلام خلکو مات کړ. (**حين حَطَمه الناس**)

خاتم النبيين او ملګرو يې د دنيا ارام خو ايسته کېږده، خپل ژوند له ډېرو لازمي ضرورتونو هم محروم کړ، بيا دا ممکن شوو، چې په تاريخ کې دې د هغه نبوت دور پيل شي، چې رحمة للعالمين بلل شوی دی.

د عربي نبي ص په راتلونکو نسلونو همدا هغه ستر احسان دی، چې له امله يې په دايمي ډول په هغه باندې د صلوة او سلام ويلو امر شوی دی. دا چې د تاريخ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي مشکل‌ترين رسالت کې خپلې کورنۍ هم له پيغمبر عليه السلام سره بشپړه ملګرتيا وکړه او صحابه يې هم په دې صبر ازمايونکي جدوجهد کې په قول او عمل دواړو کې ربښتيني ثابت شول، د همدې لپاره د رسول الله ص په خوا کې د هغه په کورنۍ او د هغه په اصحابو باندې هم د رحمت او سلام ويلو امر شوی دی. کله چې يو څوک په چا احسان وکړي، نو د انساني فطرت تقاضا ده، چې له هغه نه منښه وشي. درود او سلام د همداسې يوه عظيم احسان د دعا په بڼه اعتراف دی. په حديث کې راغلي دي: «البخيلُ مَن ذكرتُ عندهُ فلم يُصلِ عَلَيَّ» (نسائی، ترمذي). **بخيل دی هغه انسان، چې زما يادونه وشي، خو دی راباندې درود ونه وايي.**

## اللّهمّ صَلِّ عَلى سيِّدِنَا مُحمّدٍ وّ عَلى آلِهِ وَصَحبِهِ وَسَلّم

**د بني اسرائيل په سوره کې د اللّه تعالی ارشاد دی، «ښايي چې رب دې په يو ستايلي مقام کې ودروي.» د پيغمبر عليه السلام په هکله دا الهي خبرتيا د مکي دور په وروستي کال کې نازله شوه. دا هغه مهال و، چې د نبي کريم ص مظلوميت او بې وسي او بې کسي خپلې انتها ته رسيدلې وه. تر دې چې مخالفين يې د وژلو لپاره د تدبيرونو په لټه کې شوي وو. پيغمبر عليه السلام ته به يې د محمد (ستايل شوی) په ځای مذمم (رټل شوی) ويل.**

**په دې وخت کې خبر ورکول شو، چې د اسلام مخالفين دې په خپل لنډمهالي اقتدار نه خوشحالېږي. د محمد ص بن عبداللّه معامله کومه بشري معامله نه ده، دا خو سراسر خدايي معامله ده. خدای به په هر حال کې خپل پلان سرته رسوي، سره له دې چې منکرين د دې طرحې په خلاف هر څومره هلې ځلې وکړي. عربي نبي ته دا نه دې ټاکلي، چې دی به په ګمنامي کې له دنيا سترګې پټوي، هغسې چې له اکثرو پيغمبرانو سره وشول. خدای به خپل پيغمبر له مکې نه يثرب ته ورسوي او هلته به ده ته يو مرکز په لاس ورکړي. ده ته به داسې اقتدار ورپه برخه کړي، چې د هغه په مټ به د باطل جرړې وباسي. د ځانګړو الهي مصلحتونو له مخې به تر دې بريده بريالی شي، چې د ټول بشر ستايلی انسان به وګرځي. هغوی چې ده ته مذمم وايي، ډېر ژر به په خپل ژوند کې لا په ربښتيني معنا د محمد او محمود جوړېدل ووينې. د عربي نبي په هکله د خدای دا طرحه په پوره توګه بشپړه شوه. تر دې چې هغه مبارک د دې جوګه شو، چې د الهي دين په بنيادونو يو نوی تاريخ وپنځوي.**

**د خدای رسول ص چې په څه ډول په دنيا کې د خلکو په منځ کې محمود او ممدوح وګرځول شو، په همـدې ډول به د حشر په ميدان کې هم د خلکو په منځ کې په محمود مقام سرلوړی شي. د دې محموديت د وروستي او بشـپړ اظهار نوم د شفاعت مقام دی.په دنيا کې انسانيت د نبي کريم ص له برکته له يوه ستر امتحان څخـه وژغـورل شو. په اخرت کې به هم اللّه تعالی د نبي کريم ص په لاس خلک د حشر له بوږنوونکي ازمايش نه وباسي او بې له شکه دا به يو داسې اعزاز وي، چې په ړومبنيو او ورستنيو کې هيچا ته هم نه دی ورکول شوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خارجي هدایت اړتیا

انسان ازاد خلق شوی دی. خو ده ته دا نه ده معلومه، چې دی خپله ازادي په څه ډول وکاروي. په کایناتو کې بې سا موجودات د فطرت د قانون له مخې خپل کار کوي او ساکښ موجودات د خپل جبلت له مخې. په ټوله معلومه دنیا کې یوازې انسان دی، چې د خپل ژوند نقشه به پخپله جوړوي. خو تجربې ښیي، چې انسان په خپلو ټولو اعلی صلاحیتونو سربېره هم په دې نه پوهېږي، چې د خپل ژوند نقشه څنګه جوړه کړي. په یوه خورا بشپړ کاینات کې انسان یو نیمګړی وجود دی.

په کاینات کې ډېر کوچنی شی هم داسې نشته، چې له نور کاینات نه دې بېل وي. د دې خبرې نه منظور دا دی، چې د انساني ژوند د نظام جوړولو لپاره د ټول کاینات علم پکار دی. انسان د دې عظیم کاینات مازې یوه جزوي برخه ده. خو په دې جز باندې پوهېدل هم هغه وخت شونی دی، چې د کل په اړه موږ پوره علم حاصل کړی وي. تاریخ راته وایي، چې انسان په هېڅ زمانه کې هم په دې نه دی توانېدلی، چې د دنیا د حقایقو احاطه دې وکولی شي. او اوس خو ساینس یو بل ګام هم واخیست او دا یې ثابته کړه، چې د خپلو محدودو صلاحیتونو په اساس د انسان لپاره دغه راز احاطه اصلاً ممکنه هم نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبه د ځمکې په نشيب او فراز کې خپله لاره وهي. ځاروي د خپل جبلت په مټ د خپلې لارې کچ و مېچ معلوموي. فرضاً که داسې نه وي، بيا هم د هغو لپاره هېڅ ستونزه نشته. په دې چې اوبه يا ژوي په طبيعي ډول د سم او ناسم له احساس نه خالي دي. د دوی په دنيا کې هماغه سم دي، چې عملاً پېښ شي. مگر د انسان مطالعه بيا راته وايي، چې د سم او ناسم، يا په نورو ټکو کې اخلاقي احساس د انسان په فطرت کې داسې اغږلی دی، چې په هېڅ راز هم ځان له دې احساس څخه نه شي بېلولی. خو انسان چې کله خپل اخلاقي احساس په خارجي ډول متعين کول غواړي، نو دی پوهېږي، چې دا کار نه شي کولی. انسان د خپلو اوسنيو حواسو له مخې هغه وخت په يوه شي په قاطع ډول پوهېدلی شي، چې زموږ له زاوېې نه خپل عيني وجود (Ojbective Status) ولري. حال دا چې تجربه راته وايي، چې انسان په يوه داسې دنيا کې دی، چې هلته د عيني ارزښتونو (Objective Values) هېڅ وجود نشته.

انسان چې د خپل ژوند د جوړولو لپاره هر گام پورته کوي، نو سمدستي يې دوه سوالونه مخې ته درېږي. يو دا چې د ده د عمل د پيل نقطه (Starting Point) بايد څه وي، بل دا چې د ده د عمل حدود (Limitations) څه دي. د همدې دواړو پوښتنو په ځواب پورې د انسان د عمل صحت تړلی دی. خو انسان سره هېڅ داسې ذريعه نشته، چې د هغې په مټ دې د يادو دواړو سوالونو سم ځوابونه معلوم کړای شي.

مثلاً د ښځې او نارينه ترمنځ د خپلمنځي اړيکې مسئله دراواخلئ. د اوسني عصر انسان د دې معاملې د پيل ټکی د دواړو جنسونو ترمنځ کلي مساوات انگېرلي دي. خو له اوږدې تجربې وروسته معلومه شوه، چې دلته داسې بيولوژيکي او ارواپوهنيز خنډونه پراته دي، چې د اوسني تخليقي نظام په صورت کې د دواړو جنسونو ترمنځ بشپړ مساوات اصلاً امکان نه لري. په دې توگه له ناسم ټکي څخه د پيل کولو له امله نه يوازې بې شمېره انساني وسايل ضايع شول، بلکې داسې نوي، نوي اجتماعي او کورني مسايل پيدا شول، چې حل لاره يې د هېڅ انسان په فهم کې نه راځي.

دغه راز په اتلسمه پېړۍ کې د مشيني ځواک له ايجادېدو وروسته چې کله صنعتي نظام منځته راغی، نو خلکو وليدل، چې د فابريکو ملکيت اوس په ساده ټکو کې مازې ملکيت نه دی پاتې، بلکې د اقتصادي استحصال معنا يې اخيستې ده. په دې ډول د دوديزو نظرياتو په خلاف بغاوت پيدا شو، چې بلاخره دې ان ته ورسېده، چې پخپله انفرادي ملکيت يې له يوې مخې منسوخ کړ. خو د ابادې دنيا په تقريباً نيمه برخه کې د نيمې پېړۍ له تجربو وروسته هغه وروستۍ خبره چې انسان ته معلومه شوه، هغه دا وه، چې د ملکيت منسوخول مازې د عکس العملي جذباتو له مخې يو افراطي اقدام و، چې بله هېڅ پايله يې ورنه کړه، مگر دا چې تر پخوا يې هم ډېر شديد استحصالي نظام وزېږاوه. اوس د ټولې دنيا د فکر وگړي په دې باندې فکر ته اړ شوي دي، چې ښايي ډېره صحيح خبره به دا وه، چې د ملکيتونو د تنسيخ په ځای يې استحصال تنسيخ کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله مسئله هم شته، چې تر پورتنيو دواړو مسئلو ډېره مهمه ده. د نورو ټولو حيواناتو په پرتله په انسان کې يوه حيرانوونکې داعيه دا ده، چې دی د سبا ورځې **(Tomorrow)** تصور لري او تنها په «نن ورځ» باندې قناعت نه کوي. د دې په خوا کې موږ دا هم ګورو، چې زموږ اوسنی ژوند خورا ډېر لنډ دی او د دې ژوند خوښۍ او برياوې بې حده معمولي دي. موږ چې کله هر هغه څه لاسته راوړو، چې زموږ زړه يې غواړي، نو د مرګ وخت نيږدې رارسېدلی وي. په اوسني عصر کې له تخنيکي انقلاب وروسته چې کله انسان وليدل، چې د ده په مخ د عيش او راحت داسې دروازې وازې شوې دي، چې د پرون ورځې انسان په خوب کې هم نه وې ليدلې، نو داسې يې وانګېرله، چې همدا موجوده ژوند هر څه دی او په همدې دنيا کې عزت او خوشالي لاسته راوړل، د انسان اصلي بريا ده. خو انسان يوه پېړۍ هم له دې نويو فرصتونو خوند نه و اخيستی، چې نويو، نويو مسايلو مثلاً صنعتي ککړتيا **(Industrial Pollution)** د ژوند ذايقه ور ترخه کړه. يوه لوري ته د «انتي ساينس» غورځنګ په راز، راز شکلونو کې راپورته شو. بل لوري ته اروايي څېړنو په دې ثبوتونو لاس پورې کړ، چې ژوند يوه داسې پديده ده، چې له جسماني مرګ نه وروسته هم په يو ډول نه يو ډول دوام

> **د نورو ټولو حيواناتو په پرتله په انسان کې يوه حيرانوونکې داعيه دا ده، چې دی د سبا ورځې (Tomorrow) تصور لري او تنها په «نن ورځ» باندې قناعت نه کوي.**

کوي، تر دې چې د مرګپوهنې **(Thanatalogy)** په نوم د ساينس يوه نوې څانګه منځته راغله، چې په دې څېړنو کې سرګرمه ده، چې ايا مرګ او ژوند دواړه د يوه بل اجزاء دي؟ دې واقعاتو يو ځل بيا انسان مجبور کړ، چې د خپل ځان لپاره د ژوند لا سمه فلسفه ولټوي.

پورته چې کومو اړخونو ته اشاره شوې ده، د هغو يوازې دوه توجيهات ممکن دي. يو دا چې انسان د يوه بشپړ کاينات دننه د يوه نيمګړي وجود حيثيت لري. دی د يوه داسې کايناتي تضاد سمبول دی، چې په معلومه دنيا کې يې هېڅ حل لاره شوني نه ده. بله دا چې دا تضاد هم حل‌لاره لري يا تر لږ تر لږه حل کېدلی شي. له تجربي علومو سره په دې دواړو توجيهاتو کې د يوې په حق کې هم قطعي ثبوت نشته. البته عقلي قياس دا وايي، چې دوهمه توجيه بايد سمه وي، په دې چې دا ستر کاينات چې په څه راز د فطرت د قانون او جبلت په اوږو په خورا منظمه توګه روان دی، د هغه په ليدو دا خبره د قياس وړ په نظر نه راځي، چې دا کاينات دې له دې نه د کمې درجې د يوه سوال ځواب ونه لري. هغه تخليقي ځواک چې د اسمانونو دومره ستر نظام څرخوي او په پوره بريا سره د ساکښو موجوداتو خورا پېچلي ژوند ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجود بښلو لپاره مصروف دی، هغه دې د يوې ډېرې ورې مسئلې حل له ځان سره ونه لري، دا خبره په هېڅ ډول هم په فهم کې نه راځي. د انسان لپاره دا شوني نه ده، چې پخپل سر د ځان لپاره د ژوند فلسفه ايجاده کړي. مګر خارجي قريني وايي، چې په کايناتو کې بايد د دې بشري تقاضا ځواب ويل شوی وي، هغسې چې د نورو بې شمېره ضرورتونو بشپړ نظام په کې موجود دی.

**دا واقعيت د انسان لپاره د خارجي هدايت اړتيا ثابتوي او د همدې خارجي هدايت بل نوم وحي او الهام دی.**

## حبشې ته هجرت

د نبوت په پنځم کال په مکه کې د مسلمانانو حالات ډېر زيات کړکېچن شول. د مسلمانان زياتېدونکي شمېر ته په کتو قريشو د هغوی د مورال د وژلو لپاره يوه نوې هڅه پيل کړه. دوی دا اوازه ګډه کړه، چې هېڅ شخص دې له مسلمانانو نه کوم څه پېري، نه دې ورباندې څرڅوي، نه دې د هغوی له جينکيو سره نکاح کوي، نه دې خپلې جينکۍ هغوی ته ور ودوي.

په لرغونې مکه کې دغه راز اقتصادي او اجتماعي پرېکون د ژوند د فلج کولو په معنا و. نبي کريم صلی اللّٰه عليه وسلم خپلو ملګرو ته مشوره ورکړه، چې په حبشه کې د يوه عادل پاچا واکمني ده، تاسو هلته لاړ شئ. مسلمانانو په ورو، ورو ډلګيو کې حبشې ته مخه کړه. په دې چې په اجتماعي ډول له کور نه په وتلو کې انديښنه وه، چې قريش به خنډ ورته ساز کړي.

دغه خلک د جدې له ساحل نه د کرايې په کښتيو کې سواره شول، له بحر قلزم نه واوښتل او په حبشه کې کوز شول. په حبشه کې يې په تجارت او مزدورۍ خپلې ورځې شپې سبا کولې. ويل کېږي چې په ټوله کې شاوخوا سل تنو له مکې نه حبشې ته کډه وکړه.

قريشو ته چې کله معلومه شوه، چې مسلمانانو مکه پرې ايښې او حبشې ته تللي دي، نو هغوی خپل دوه تنه عمرو بن العاص او عماره بن وليد انتخاب کړل، چې حبشې ته سفر وکړي او پادشاه دې خبرې ته اماده کړي، چې مسلمانان قريشو ته وسپاري.

د قريشو دغه هيئت له ډاليو او تحفو سره حبشې ته ورسېده او د نجاشي پاچا مخې ته يې خپله غوښتنه وړاندې کړه. پاچا مسلمانان راوغوښتل او ورته وې ويل، چې په دې تړاو ستاسې ځواب يا دريځ څه دی؟ جعفر بن ابي طالب د مسلمانانو د نماينده په حيث وويل «اې پادشاه! په مکه يا د عربستان په هېڅ کوټ کې مو غلا نه ده کړې، نه مو څوک وژلي دي او نه مو کوم ظلم کړی دی.» د حبشې پادشاه د قريشو له هيئت نه پوښتنه وکړه. هغوی ځواب ورکړ، د دوی خبره سمه ده. دوی د غلا او قتل په څېر کوم جرم نه دی کړی. زموږ تور فقط دا دی، چې د خپلو پلرونو او نيکونو دين يې بدل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامي علومو تدوين

عقبه بن نافع تابعي (٦٢هـ) د يزيد بن معاويه د خلافت په زمانه کې د افريقا د اسلامي پوځونو سپه سالار و. ده د لويديځې افريقا هېوادونه فتح کړل او د اټلانټک تر ساحله پورې ورسېده. اسفی ښار يې وروستی منزل و. دلته نوموړی له خپل اس سره سمندر ته ور کوز شو او د اوبو په منځ کې يې وويل:

«اللهم اني لو أعلم وراء هذا البحر بلداً لخضته اليه حتى لا يعبد احد دونک.»

**اې خدايه! که زه پوهېدی، چې له دې سمندر نه اخوا هم هېواد شته، نو په سمندر به ورپورې وتی وم، تر دې چې بې له تا د هيچا عبادت نه وای شوی.**

هغه خلک چې په اولني دور کې يې په قرآن ايمان راووړ، او نېغ په نېغه د خدای د پيغمبر په لاس روزل شوي وو، په هغوی کې تر ټولو ډېر همدا جذبه په ولولو وه، چې د خدای پيغام د خدای تر ټولو بندګانو پورې ورسوي. د دوی دا جذبه تر هغو پورې د تم کېدو نه ښکارېدله، تر څو چې د ټول جهان وګړي د الله بندګان ونه ګرځوي. خو په وروسته پېړيو کې د اسلام د تاريخ لوستونکی په ډېرې حيرانتيا سره ګوري، چې ياده جذبه ورو په ورو ختمه شوه. په نيږدې پېړيو کې چې اسلام د زوال ښېره وخوړه، نو د اسلام د احياء لپاره ګڼ شمېر عاليشان غورځنګونه راپورته شول. مګر داسې هېڅ د يادونې وړ غورځنګ په نظر نه راځي، چې د دعوت الی الله له مقصد سره دې راپورته شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه قرآن چې صحابه او تابعینو لوستی و، وروستنیو خلکو هم هماغه قرآن ولوسته، نو بیا څه وجه ده، چې هغه قرآن چې په خپلو اولنیو مخاطبینو کې یې د اسلام د دعوت اور بل کړی و، هماغه قرآن د دې باعث نه شو، چې وروستني خلک هم د دعوت تر سرلیک لاندې راپورته کړي. د دې وجه یوازې دا ده، چې په لومړني دور کې قرآن کریم نېغ په نېغه د خلکو لپاره د دیني علم ماخذ و. حال دا چې په وروستي دور کې قرآن کریم د انسانانو له لوري د ایجاد شویو علومو په وربځو کې پناه شو.

قرآن یو اساسي کتاب دی، چې د دین ټول بنیادي مسایل په کې ښوول شوي دي. اوس اړتیا ده، چې د همدې مبادیاتو په بنسټ قرآن کریم لا زیات روښانه (**نحل: ۴۴**) او د خلکو لپاره ورباندې پوهېدل اسانه شي. د دې روښانتیا واضحه بېلګه د رسول الله ص په سنت کې موجوده وه. خو په وروستي دور کې د قرآن کریم د روښانتیا او تفصیل لپاره د سنت د ساده طریقې په ځای له فني طریقې نه کار واخیستل شو. د دې پایله دا شوه، چې د سیده او ساده محمدي دین په ځای یو پېچلی غوندې متوازي دین منځته راغی، چې تار او زرتار یې له فقهي اصطلاحاتو، د علمِ کلام له موشګافیو او صوفیانه راز او رموز نه تیار شوي وو. تابعینو، چې د رسول الله له اصحابو یې دین اخیستی و، هغوی په دې ډول له دین څخه د یوه فن په جوړولو ډېرې کلکې نیوکې وکړې. د هغوی په نزد دا د یهودو او نصاراوو تقلید و، نه د محمدي سنت پیروي. خو دا چې ولس او واکمن له دین څخه خالي شوي وو، د همدې لپاره تخنیکي دین د هغوی له حال سره ډېر جوړ و، او د هغوی د تائید او مرستې په زور دې دین لا زیاته وده کوله. د تاریخ تجربه ده، چې کله اوږده موده تېره شي، نو د ماضي هر شی مقدس وګرځي. د وخت په تېرېدو سره په دې متوازي دین کې د تقدس عنصر هم پسې زیاتېده، تر دې چې اوس هېڅ شخص دا فکر نه شي کولی، چې د فقهې په کتابونو کې کومه داسې مسئله هم کېدی شي، چې د قرآن او سنت له منشاء سره به سر نه خوري؛ د صوفیانو په ملفوظاتو او قصو کې د کومې غلطي امکان هم شته؛ یا په رواجي معقولاتو کې هم کوم داسې څه کېدی شي، چې غیر معقول دې وبلل شي. له دې وروسته قران کله هغه ځای موندلی شوی، قرآن خو مازې د برکت فابریکه وه. قرآن کریم د برکت له اړخه یوازې د تلاوت کتاب پاتې شو. تر دې چې هغو خلکو چې د قرآن تفسیرونه ولیکل، د هغو په نظر کې هم د دې کار هدف یا «ثواب» حاصلول و،یا دا و، چې په فقه، تصوف یا معقولاتو کې خپل ځانګړی لیدلوری د خدای له کتاب څخه خلکو ته په ثبوت ورسوي، **الا ماشاءالله**.

دا خبره کول به په ځای وي، چې د فقهې، تصوف او علمِ کلام په څېره کې چې په اسلام کې کومې زیاتونې وشوې، د هغو تر ټولو لوی نقصان دا و، چې د قرآن کریم رسۍ له لاسونو وښوېده. دې زیاتونو دین په یو قسم فن باندې بدل کړ. هغه څه چې په الهي کتاب کې په ساده او فطري اسلوب کې بیان شوي و، په هغو کې یې له خپله ځانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موشګافیاني وکړې او نوي، نوي مسایل یې راپیدا کړل او په خپل سر یې بې شمېره اصطلاحات وضع کړل، تر څو خپل مسایل په فني اسلوب کې بیان کړي. په دې سره الهي دین د داسې احکامو او مسایلو مجموعه وګرځېده، چې یوازې د فني کتابونو له مطالعې څخه د پوهېدو وړ وي او د الهي کتاب له لارې د هغو معلومول هېڅ ممکن نه وي.

نن ورځ که څوک د لمانځه په «مسایلو» پوهېدل غواړي، نو د خیال په حاشیه کې یې هم دا خبره نه ورګرځي، چې د دې مقصد لپاره دې قرآن مطالعه کړي، په دې چې دی پوهېږي، چې د لمانځه مسایل خو د فقهې په کتابونو کې پیدا کېږي. که د چا روحاني ارتقا پکار وي، نو دا خیال هم نه ورځي، چې د خدای کتاب ته کېني او په هغه کې د روحاني سلوک طریقې ولټوي. دی یوازې دومره کوي، چې یوه «بزرګ» ته ځان رسوي، په دې چې د ده په ذهن کې دا خبره ناسته ده، چې د روحانیت د فن اداب خو د روحانیت د فن له متخصص څخه معلومولی شي. دغه راز که شوق یې وي، چې د اسلام دعوت په عقلي ډول مدلل کړي، نو دی په قرآن کریم کې د اسلام د دعوت نکتې نه لټوي، بلکې په معقولاتو کې ځان غرقوي. ځکه دی پوهېږي، چې د دې فن باریکۍ یوازې د معقولاتو له کتابونو ترلاسه کولی شي. قرآن د دې لپاره نازل شوی و، چې خلک تدبر (ص: **۲۹**) په کې وکړي او د ځان لپاره لارښوونه ورنه حاصله کړي. خو دوی چې قرآني لارښوونې په یوه فن بدلې کړې، نو د هغې پایله دا شوه، چې قرآن د تدبر کتاب پاتې نه شو، یوازې د تلاوت کتاب وګرځېده، چې هغه اخري استعمال یې دا و، چې هره ورځ یا په اونۍ کې یې باید یو «ختم» وشي. خلکو د خپل دین لپاره احبار و راهبانو ته مخه کړه او قرآن کریم یې د برکت د شي په توګه په جامه کې ونغښته. د دې کار کېدل بالکل طبیعي و. په دې چې هغه نکتې او موشګافۍ چې دوی د دین په نظر ورته کتل، هغه په قرآن کریم کې له سره موجودې نه وې.

د خدای له کتاب نه د محرومي دا معامله په دې پوله باندې ونه ودرېده، بلکې زموږ په ټول ژوند باندې یې سیوری وغوړېده. په قرآن کریم کې الله تعالی د ټولو اړینو مسایلو تفصیل بیان کړی دی (**اسراء: ۱۳**) قرآن په هره معامله کې د مؤمن ذهني غذا ده. خو د پاسني کار پایله دا شوه، چې دا ذهنیت له یوه سره ختم شو، چې د اسلام او اسلامي ملت ټول مسایل په قرآن کریم کې ولټوو، قرآن ته چې په خالي ذهن سترګې ور واړوو، نو له اشتباه پرته به دا څرګنده شي، چې د الله تعالی په نزد د انسان تر ټولو لویه مسئله دا ده، چې بنده یې په دې پوه شي، چې له مرګ نه وروسته به دی د حساب کتاب لپاره د خپل رب په حضور کې درېږي. له دې راتلونکې ورځې د ټولو قومونو خبرول د محمدي امت اصلي رسالت دی. خو موږ ګورو، چې په دې دور کې له راپورته شویو بې شمېره غورځنګونو څخه هېڅ داسې قابلِ ذکر غورځنګ نشته، چې له دې خاص مقصد سره دې راپورته شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خلک چې په اوسنی زمانه کې د اسلام د احیاء لپاره راپورته شول، هغوی سره له دې چې عالمان وو او قرآن کریم به یې مطالعه کاوه، خو د دوی شاکله (ذهني ساخت) فقهي، تصوف او علمِ کلام جوړ کړی و. همدا شی دی، چې خلک یې د قرآن کریم له نېغې لارې څخه واړول. په دوی کې چې په هر چا باندې د کلام غلبه وه، د هغه په ذهن کې د دین د خدمت شوق د مناظرو بڼه خپله کړه. هغه خلک چې صوفیانه ذهنیت یې درلوده، هغوی د خانقايي طرز په تعلیم او تربیه کې د ملت اینده لټوله. دغه راز، هغوی چې ذهن یې د فقهې له سکلېټ څخه رغېدلی و، هغوی اسلام ته د یوه «نظام» په نظر وکتل، چې د عملي کولو یوازنۍ لاره یې دا وه، چې الهي حکومت رامنځته کړي او د اسلام مدني او نظامي قوانین نافذ کړي. دې لیدلوري تر عامو وګړو پورې هم داسې غځونې وکړې، چې د اسلام د اصلي کار لپاره په هغوی کې هېڅ داعیه پاتې نه شوه. د دوی د کارونو په لیکلړ کې یوازې دوه کارونه د ثواب د کارونو په حیث پاتې شوو: د جوماتونو او مدرسو د ابادولو لپاره چندې ورکول، یا د «بزرګانو» خدمت ته ډالۍ وړاندې کول. له دې نه علاوه بل هېڅ کار دوی ته دیني کار نه ایسېده، نو ځکه په بل کوم کار کې د هغوی د مرستې او همکارۍ تمه هم نه شوی کېدای.




یو خالي الذهن شخص دې زموږ اسلامي کتابخانې ته وګوري، نو په ډېرې حیرانتیا سره به یې یو اختلاف سترګو ته ودرېږي. او هغه اختلاف د نازل شوي دین او مدون شوي دین اختلاف دی، چې په ډېره لویه پیمانه په اسلام کې راټوکېدلی دی. د خدای دین په قرآن او حدیث کې یو ساده او فطري شی په نظر راځي. دا دین د خلکو زړونه ګرموي او عقل ته ځلا او رڼا وربښي. خو همدا الهي علوم چې کله په بشري کتابونو کې په مدون شکل کې زموږ مخې ته راشي، نو ناڅاپه یو داسې شکل اختیار کړي، چې له وچو بحثونو پرته نور هېڅ هم نه لري. نه په کې د زړونو لپاره ګرمي شته او د نه د عقل لپاره رڼا او ځلا. په قرآن کریم کې هم فقه شته، خو د **کنز الدقائق** (ابوالبرکات نسفي) له فقهې سره ډېر زیات فرق لري. په قرآن کې هم تصوف شته، خو د **ضیاءالقلوب** (حاجي امدادالله مهاجر مکي) له تصوف سره یې هېڅ مشابهت نشته. دغه راز په قرآن کې هم معقولات راغلي، مګر د **شمس بازغه** (ملاجیون جونپوري) له معقولاتو سره یې هېڅ راشه درشه نشته.

د دې مطلب دا نه دی، چې د اسلامي علومو تدوین په خپل ذات کې کوم نامطلوب شی دی. بې له شکه چې دا کار مطلوب دی. مګر په وروسته پېړیو کې چې دې کار کوم لوری ونیوه، هغه صحیح نه و. د اسلامي علومو تدوین د تذکیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نصیحت) په طرز باندې مطلوب و، نه هغسې چې په عمل کې شوي دي، یانې په فني اسالیبو کې. دین د ذکر او نصیحت په خاطر آسانه (**قمر: ۱۷**) استول شوی دی. خو موږ په خپلو مغلقو بحثونو پېچلی کړی دی.

قرآن کریم ته ذکر یانې نصیحت (یس: ٦٩) ویل شوي دي. په قرآن کریم کې غور او فکر (**ص: ۲۹**) او علمي اضافه (**زمر: ۳۹**) هماغه مطلوبه ده، چې ذکر او نصیحت ترې حاصل شي. بله دا چې د قرآني علومو تفصیل او تبیین په څه ډول وشي، د دې واضحه نمونه د رسول الله په سنت کې موجوده وه. په دې چې پیغمبر علیه السلام په دې کار باندې د خدای له لوري مامور و (**نحل: ۴۴**) او نبي کریم ص دا کار په خورا بشپړه بڼه ترسره کړ. دا ټول شیان دا ثابتوي، چې د اسلامي علومو د تدوین مطلب هېڅ کله دا نه دی، چې فني زیاتونې په کې وشي یا الله او رسول چې کوم احکام راکړي دي، په هغو کې نور استخراج وکړو او نوي نوي مسایل په کې وضع کړو او قرآن کریم، چې د امام غزالي په نزد یوازې پنځه سوه احکام په کې دي، د پنځه سوه زره احکامو په مجموعه بدل کړو. د اسلامي علومو د تدوین معنا فقط دا ده، چې د تفصیل او وضاحت په موخه هغه شیان په کې شامل شي، چې د ذکر او نصیحت سامان ولري. په قرآن کریم کې چې موږ ته کومې خبرې ښوول شوې دي، د هغو په اړه چې یوه خواته دا حکم دی، چې کلکې منګولې پرې ولګوئ، نو په خوا کې یې دا هم ویل شوي دي، چې د قرآن کریم په خبرو غور او تدبر وکړئ (**ص: ۲۹**). په قرآن کریم کې د تفصیلاتو او معانیو لټون په خپل ذات کې یو محبوب کار دی. مګر دا لټون باید د تذکیر او نصیحت د خبرو لپاره وي، نه د فني باریکیو او قانوني فروعاتو د لټولو په خاطر.

که نن ورځ د یوه کلي اوسېدونکي دارالافتاء دا مسئله واستوي، چې زموږ د جومات سرپېټه برخه د لمونځ کوونکو لپاره نوره تنګېدو وه او د جومات په اوسنۍ ځمکه کې د پراخوالي کوم لاره نه وه، نو ځکه موږ د جومات ټول انګړ پټ کړ. اوس ستونزه دا راپېښه ده، چې په جومات کې انګړ نه دی پاتې. نو په دې حالت کې آیا د موسمي اړتیاوو له مخې د جومات پرانیستی چت د لمانځه لپاره کارولی شو؟ نو زموږ مفتي به سمدستي د یوې شرعي مسئلې په حیث د هغې ځواب لیکلو ته متېې راونغاړي او وبه لیکي، چې له پلانکي او بیستانکي شرط سره د جومات چت د لمانځه لپاره کارولی شئ. حال دا چې له هر شي نه «شرعي مسئله» جوړول قطعاً له اسلام سره په ټکر کې دی. دا خو هغه یهودیت دی، چې د ختمولو لپاره یې وروستی پیغمبر مبعوث شوی و. د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او صحابوو په زمانه کې حال دا و، چې کله به دغه راز پوښتنه وشوه، نو سائل ته به کوم ټاکلی ځواب نه ورکول کېده. بلکې همدومره به ورته ویل کېدل، چې دا کومه شرعي مسئله نه ده. د خپلو حالاتو له مخې چې هر رنګه مناسبه وینې، هماغسې وکړه. د حدیثو او سیرتونو په کتابونو کې په کثرت سره دغه راز مثالونه موجود دي، چې د یو چا له سوال نه د «مسئلې» جوړولو په ځای پخپله سوال غندل شوی دی. خو د نن ورځې د فقیه او مفتي په نزد دغه قسم هېڅ خانه نشته. د ده په نزد هر شی یوه شرعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئله ده او د هرې خبرې په ځواب کې دی د خپلې فقهې له کتابونو نه یوه نه یوه داسې حاشیه راپیدا کوي، چې د هغه په رڼا کې د سائل د مسئلې شرعي صورت وښودلی شي.

د قرآن کریم د نزول په وخت کې یهودو ته ویل شوي و:

وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ. (اعراف: ۱۵۷)

**درانه پېټي يې ترې ايسته کوي او هغه بنديزونه چې پر دوی وو (ماتوي يې).**

منظور دا چې یهودي فقهاوو په خپلو قانوني موشګافیو سره او د دوی روحاني پیشوایانو د خپلې بزرګۍ په مبالغو سره چې د یهودو ژوند په کومو پېټو دروند کړی و او په کومو مصنوعي بندیزونو کې یې ځان ښکېل کړی و، دا پیغمبر هغه پېټي له دوی نه ایسته کوي او الهي دین په خپل سوچه حالت کې د دوی مخې ته ږدي. نن ورځ د وروستي پیغمبر امت پخپله د همدې «**اصر** و **اغلال**» لاندې بې سبکه پروت دی. د اسلام فقهاوو او مشایخو، اسلام له هغو ټولو زیاتونو مالامال کړی دی، چې د یهودو فقهاوو او فریسیانو په موسوي شریعت کې کړی و. نن ورځ د اسلام د تجدید تر ټولو لومړنی کار دا دی، چې اسلام له دې ټولو زیاتونو سوتره شي. تر څو چې دا کار ونه شي، د اسلام د احیا په لور بل هېڅ راتلونکی ګام نه شي پورته کېدی.

> د خدای له دین نه فن جوړول په ظاهره یو ډېر ښکلی یا لږ تر لږه بې ضرره کار ښکاري. خو د نتیجې په اعتبار ډېره زیاته سنګینه مسئله ده. دا کار په زړونو کې سختې پیدا کوي او له بنده نه لطیف احساسات اخلي.

د خدای له دین نه فن جوړول په ظاهره یو ډېر ښکلی یا لږ تر لږه بې ضرره کار ښکاري. خو د نتیجې په اعتبار ډېره زیاته سنګینه مسئله ده. دا کار په زړونو کې سختې پیدا کوي او له بنده نه لطیف احساسات اخلي.

په قرآن او حدیث کې چې د خدای دین په کومه ژبه کې دی، هغه د انذار او تبشیر ژبه ده، د تذکیر او نصیحت ژبه ده. دا دواړه اسالیب په بشپړه توګه له یو بله سره مختلف دي او بالکل بل راز نتایج ورسره راوړي. د قرآن او حدیث اسلوب بنده د حقایقو او معانیو خواته متوجه کوي، حال دا چې زموږ فني علوم بنده په جزیاتو کې مشغولوي. د قرآن او حدیث له اسلوب نه په بنده کې تفکر او تدبر پیدا کېږي حال دا چې فني علوم د بحثونو او لانجو ناپایه دروازې پرانیزي. د قرآن او حدیث اسلوب د بنده احساسات داسې راویښوي چې د یوم الحساب مسئله ده ته تر ټولو لویه مسئله په نظر ورځي. د دې بالعکس فني علوم بنده په عبث غوندې منطقي موشګافیو کې بندوي او د ژوند له اصلي مسایلو یې لرې کوي. په دې ډول یاد فني علوم، سره له دې چې په ظاهر کې جایز علوم دي، خو د پایلې په اعتبار د هغه مقصد لپاره وژونکي ګرځېدلي دي، چې الله تعالی قرآن نازل کړی و او خپل رسول یې ورته رالېږلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې وضعیت اصلاح بې له دې په هېڅ طریقه هم نه کېږي، چې قرآن او حدیث په حقیقي معنا کې د خلکو لپاره د دین د ترلاسي ذریعه وګرځول شي، لکه څرنګه چې اوس خپل دین د فنونو له کتابونو ترلاسه کوي. مثلاً د لمانځه په هکله ټولې بنیادي خبرې په قرآن کریم کې شته دي. له هغه وروسته د لمانځه ضروري مسایل په حدیثو او د صحابوو په اثارو کې پیدا کېږي. نو اوس چې د لمانځه په مسایلو کوم کتاب لیکل کېږي، هغه باید یوازې په همدې درې شیانو باندې مشتمل وي، قرآن، سنت او د صحابوو اثار. له دې پرته دې بل هېڅ شی هم د لمانځه په مسایلو کې نه شاملېږي. تر دې چې ترجیح او تفضیل هم نه. په دې چې د صحابوو ترمنځ په یوه مسئله کې اختلاف په هغه مسئله کې دیني توسع رانښيي، نه دا چې یوه مسئله سمه ده او بله ناسمه، یوه افضل ده، او بله غیر افضل.

زموږ په عربي کتابخانه کې د «امهات کتب» لویه برخه هغه ده، چې په همدې فني ژبه کې ترتیب شوې ده. د فقهې فن، د معقولاتو فن، د تصوف فن په وروسته وختونو کې په پنځول شوي اسلامي ادب باندې داسې سیورې غوړولې دی، لکه هاله چې له سپوږمۍ نه راتاو وي. پایله یې دا ده، چې که د اسلام متن خوندي هم وي، مګر عملي او دودیز اسلام کټ مټ هماغسې د بشري لاسوهنو او امیزش ښکار شوی دی، څنګه یې چې نور مذاهب ښکار شوي وو. تر څو دا چې کتابونه د دیني علم ماخذ دي، هېڅکله دا شونې نه ده، چې د دین سم تصور دې د خلکو په ذهنونو کې ځای ونیولی شي. د سم دیني فکر د پیدا کولو لپاره د لزوم تر بریده اړینه ده، چې قرآن او حدیث او د صحابوو اثار د دیني علم ماخذ وګرځول شي، نه دا چې هغه کتابونه چې زموږ په دارالعلومو کې تدریسېږي. د اسلام د بیااحیاء لپاره لومړنی لازمي ګام همدا دی، چې علومِ قرآن، علومِ حدیث او د صحابوو اثار له نوي سره په ساده علمي اسلوب کې مرتب شي او فقهي او معقولاتي او صوفیانه اسلوب د تل لپاره د تاریخ پاڼه وګرځول شي. تر هغو چې الهي دین له انساني ملاوټ نه سوتره نه شي، د اسلام احیاء نه شي کېدی.

د اسلام د تدوین کار د یوه یا دوو کسانو کار نه دی. دا د یوه داسې مجلس په مټو سرته رسېدی شي، چې په معقول شمېر کې داسې اهلِ علم ورته راټول شي، چې نه یوازې په قرآن او حدیث ښه پوهېږي، بلکې په سوچه علمي اسلوب کې د مسایلو د تحقیق صلاحیت هم ولري. دغه ډول یو ټیم په یوه اداره کې راټول شي او پرلپسې کار وکړي او د دې مقصد د تکمیل لپاره نوموړي ټیم ته هر راز وسایل پرېمانه په لاس کې ورکول شوي وي، نو ان شاء الله په لسو کلونو کې د کتابونو هغه ذخیره تیارېدی شي، چې د اسلام د بیا ځلې احیاء لپاره د حقیقي هلو ځلو لپاره د فکري بنیاد کار ورکړي. دا امت که غواړي، چې د قیامت په ورځ د محمدي امت په ډله کې حساب شي، نو لومړنی لازمي فریضه یې دا ده، چې «محمدي هدایت» له انساني ملاوټونو پاک کړي او په خپل سوچه شکل کې یې د خلکو مخې ته کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسني حالت کې که په ارادي ډول نه وي، نو له عملي پلوه دا امت د حق د پټولو مجرم ګرځېدلی دی او په دې خبره باید ښه وپوهېږو، چې د کتاب لرونکې ډلې دپاره له کتمانِ حق سره هېڅ عمل هم د الله تعالی په نزد نه قبلېږي.

د حکمت تقاضا ده، چې دا کار په اجتماعي اهتمام سره ترسره شي. هغه علوم چې اجتماعي اهمیت لري، د هغو تدوین باید په اجتماعي سطحه وشي، تر څو په ټول ملت کې یو مستند مقام ومومي او د ټولو خلکو لپاره د منلو وړ شي. د حضرت ابوبکر صدیق رض په زمانه کې چې کله د دولت تر نظارت لاندې د قرآن د جمع او ترتیب کار ترسره شو او کومې نسخې چې پاتې شوې، هغه وسوځول شې، نو په هغه کې همدا حکمت و. د قرآن کریم د ټولولو کار که د انفرادي کسانو په لاس شوی وای، نو ډېر سخت اختلاف به بودېدلی و او بیا به تر قیامته نه و ختم شوی.

د حدیثو د جمع او تدوین لپاره هم حضرت عمر بن عبدالعزیز غالباً همدا طرحه جوړه کړې وه. هغه د مدینې والي محمد بن عمرو بن حزم او نورو والیانو ته ولیکل، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چې کوم حدیث او سنت په لاس درځي، هغه ټول راجمع کړئ او د کاغذ سینې ته یې وسپارئ. خو د نوموړي خلیفه د ژر مړینې له امله د خلافت تر سیوري لاندې دا کار پای ته ونه رسېده. تر هغه وروسته داسې وشول، چې خلک د «ثواب» د جذبې له مخې په انفرادي توګه په دې کار کې بوخت شول. غوره طریقه دا وه، چې محدثینو، د خلفاوو په ذریعه، چې دوی ته یې ډېر عقیدت درلوده، د حکومت تر چتر لاندې یوه اداره جوړه کړې وای چې په هغې کې د محدثینو منتخب ټیم یو ځای شوی او د حدیثونو د جمع او ترتیب په برخه کې یې هماغه کار کړی وی، چې د قرآن کریم په برخه کې زید بن ثابت انصاري او د هغه ملګرو کړی و. که په ابتدا کې لا د معتبرو احادیثو یوه مجموعه تیاره شوې او پاتې «احادیث» اور ته غورځول شوي وای، نو امت به له بې شمېره فتنو نه خوندي پاتې و. د فقهې د تدوین په برخه کې هم سمه طریقه په همدې صدیقي تګلارې باندې عمل کول و، نه دا چې بېلابېل فقها جلا جلا د خپل فکري مکتب دروازې خلاصې کړي او یو الهي مذهب په لسو جلا، جلا مذاهبو باندې ووېشي. په همدې ډول د اسلامي علومو د تدوین کوم کار چې موږ ته راله غاړې دی، د هغه د سرته رسولو صحیح طریقه هم دا ده، چې د اهلِ علم یوه ډله وټاکل شي او هغوی په خپلو ګډو هلو ځلو د کتابونو یوه ټولګه برابره کړي. که په انفرادي ډول دا کار ترسره شي، نو اصل مدعا به ترلاسه نه شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په اعلي سطحه د کار کولو فکر وروزئ

په یوه ښار کې چې د رختونو دوکان نه وي، نو هر شخص پوهېږي، چې دا یو طلايي فرصت دی، چې په استفادې سره يې هر شخص په ښار کې د یوه کامیابه دوکان خاوند کېدلی شي. خو حقیقت دا دی، چې دلته تر دې هم یوه لویه خلا شته، چې تر اوسه پورې هیڅا ګټه نه ده ورنه پورته کړې. زموږ د هېواد پورمامور دفترونه او زموږ رنګین بازارونه چې هر وخت د پېر او پلور هنګامې په کې لګېدلې وي، له خپل ټول غورماغور سره تر اوسه پورې خالي دي.

تاسو له بازار نه د وطني تولید یو شی واخلئ، نو له څو ورځې تجربې وروسته به در معلومه شي، چې تاسو د خپلې خوښې شی نه دی ترلاسه کړی. د خپل کار لپاره یو مزدور وګمارئ، نو ډېر ژر به احساس کړئ، چې ستاسې مزدور په هغو اوصافو برابر نه دی، چې تاسې يې تمه لرله. د دې معنا دا ده، چې بازارونه خو له ډېرو سامانونو نه چاودېدو ته نیږدې دي، مګر له هغو شیانو خالي دي، چې په حقیقت کې مشتري ته اطمینان وربښلی شي. دغه راز هغه ځایونه چې بنده ته کار او دنده په کې پیدا کېږي، په ظاهره ډک ښکاري، خو هغوی اوس هم داسې کارمندانو ته په انتظار دي، چې د هغوی له خوښې سره سم د هغوی کارونه ورته وکړي.

حقیقت دا دی، چې نن ورځ زموږ ټول هېواد له سترې خلا سره لاس و ګرېوان دی. او دا خلا د اعلی تولیداتو او غوره کارګردګي خلا ده. که کومه ډله وي، چې په خواري او عملي دیانتداري کې اعلی معیار وښودلی شي، هغه چې مثلاً په جرمني او جاپان کې په نظر راځي، نو د ښو په رپ کې به د هېواد په ټول اقتصاد باندې جال وغوړوي او یوه ډله چې په اقتصاد باندې منګولې خښې کړي، هغه د لازمي پایلې په توګه په نورو څانګو کې باندې هم تسلط مومي.

په دنیا کې د ځان لپاره د مقام جوړولو دوه لارې دي. یوه دا ده چې د کومې دندې لپاره چې د لیسانس قابلیت پکار وي او لیسانس لرونکو خلکو ورته نوملیکنه کړې وي، او دې بست ته تاسو هم د لیسانس له سند سره ورشئ او چې کله تاسو مقرر نه شئ، نو بحثونه راواخلئ، چې ولې يې ستاسې په ځای بل نوماند ته ترجیح ورکړه، حال دا چې د دواړو تحصیلي درجه یوه وه.

دوهمه لاره دا ده، چېرته چې خلک له لیسانس سندونو سره راغلي وي، هلته تاسو د ماسټرۍ له سند سره ځان ورسوئ، چېرته چې نور خلک د شرایطو مطابق قابلیت په سر د خپل حق غوښتنه کوي، هلته تاسو له شرایطو پورته قابلیت ښکاره کړئ او خپل حقورباندې ومنئ.

همدا دوهمه طریقه د ژوند اصلي طریقه ده. ټول لوی، لوی پرمختګونه او بریالیتوبونه د هماغو خلکو لپاره ټاکلي دي، چې د دوهمې طریقې مطابق کار کولو ته اماده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ستورو دنیا

په پخوا زمانه کې د ستورو په هکله د انسان علم مازې په قیاساتو او مفروضاتو باندې ولاړ و، چې د نجوم شناسي (Astralogy) په بنه به مطالعه کېده. په اوولسمه پېړۍ کې د دوربین له ایجاد او د نویو الاتو له کارولو وروسته په دې برخه کې د انسان معلومات زیات شوو او ستورپوهنه (Astronomy) منځته راغله. په اوسنۍ زمانه کې د اسټرونومي علم نوره هم وده کړې ده او اوسمهال د کایناتو د ابتدا، تاریخ او انجام په هکله هم څېړنې رواني دي. دې نوي علم ته کایناتپوهنه (Cosmology) ویل کېږي. د دې علم په غېږه کې ګڼ نور فرعي علوم هم زېږېدلي دي. مثلاً راډیویي ستورپوهنه (Radio Astronomy) او داسې نور.

## د کاینات واټنونه

د کایناتو فاصلې دومره لویې دي، چې په هغو عادي پیمانو یې نه شو کچ کولی، چې موږ یې د ځمکنیو فاصلو لپاره کاروو. ستورپوهانو د دې فاصلو لپاره یوه ځانګړې پیمانه ایجاد کړې ده، چې نوري کال (Light Year) یې بولي. رڼا په یوه ثانیه کې ۱۸۶۰۰۰ میله فاصله لنډوي. یانې په یوه کال کې شپږ ټریلیونه میله. همدې فاصلې ته په ستورپوهنه کې نوري کال ویل کېږي او د کایناتي فاصلو د کچ کولو لپاره کارېږي.

لمر زموږ له ځمکې نه د نهو نوري دقیقو په فاصله کې واقع دی. یانې د لمر رڼا په همدې سرعت سره سفر کوي او تر موږه پورې په نهو دقیقو کې رارسېږي. له ځمکې نه د لمر فاصله ۹۳ میلیونه میله ده. له لمر نه وروسته دوهم لوی ستوری، چې ځمکې ته تر ټولو ډېر نیږدې دی، الفا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنتېوري (Alpha Centauri) دی. دا ستوری ۴,۳ نوري کاله لرې دی، یانې ۲۵,۸ ټریلیونه میله.

زموږ کهکشان چې شاوخوا ۱۰۰ زره میلیونه ستوري لري، د یوه ستر قاب غونډې دی، چې پرېړوالی یې لس زره نوري کاله دی. د دې قاب قطر (Diameter) تقریباً سل زره نوري کاله دی. لمر زموږ د کهکشان له مرکز نه ۳۳۰۰۰ نوري کاله لرې دی. دغه ډول بې شمېره کهکشانونه په ټول کاینات کې خواره واره دي. د ستورپوهانو خیال داسې دی، چې د کایناتو شعاع (Radius) حد اقل ۱۰ زره میلیونه نوري کاله دی. په دې پراخه کاینات کې ستورپوهانو د خپلو دوربینونو په ذریعه اته زره میلیونه نوري کاله پورې واټنونه مشاهده کړي دي.

## معاصره ستورپوهنه

د ځمکنیو ټیلي‌سکوپونو انځوریز قاب، د راډیویي ټیلي‌سکوپ په ذریعه ترلاسه شویو الکترونیکي زیگنالونو، په راکټونو او مصنوعي سپوږمکیو کې نصب شویو آلاتو او داسې نورو ښودلې ده، چې په فضاء کې داسې اجسام هم شته، چې خصوصیات یې له هغو عادي ستورو سره خورا ډېر مختلف دي، چې تر دې دمه انسان پېژندلي دي.

مثلاً هغه اجسام چې د پلسار (Pulsar) نوم ورکول شوی دی. قیاس کېږي، چې دا هغه ستوري دي، چې له سوځېدو وروسته مړه شوي دي. دا ستوري په دومره کثیف (Dense) حالت کې دي، چې د یوه مربع انچ کتلې وزن یې له زر میلیون ټنه سره برابر دی او په نه اټکل کېدونکي سرعت سره په خلا کې حرکت کوي.

همدا راز داسې اجسام دي، چې د بلېک هول (Black Hole) په نوم یادېږي. یاد اجسام تر پلسار نه هم په ډېر کثیف حالت کې دي. بلېک هول د انسان لپاره د مشاهدې وړ نه دي، په دې چې د خپل کثافت له امله د دې جسمونو د جاذبې قوه دومره زیاته ده، چې رڼا هم ورنه بهر نه شي راوتلای.

دغه راز کویسار (Quasar) اجسام هم دي. دا هم د ستورو په څېر دي او په کایناتو کې په تر ټولو لرې فاصلو کې واقع دي. له دې اجسامو نه هر یو، له لمر نه زر میلیونه چنده ډېر روښانه دی. له دې جسمونو نه دومره شدید حرارت راوځي، چې د پوهانو لپاره د حیرت او تعجب موضوع گرځېدلې ده. کویسار په دومره لرې فاصلو کې دي، چې پوهان په دې اند دي، چې د هغو په مطالعه کولو سره به ممکن دوی د کایناتو حدود معلوم کړای شي. دغه ډول ځینې نور شیان هم شته، مثلاً فلاټسام (Flotsam) چې په دې اړه اټکل دا دی، چې دغه اجسام د غازونو او غبار وربځې دي، او داسې نور.

تر پرون ورځې پورې ساینسپوهانو د اسماني مشاهدو لپاره په هماغه تخنیک بروسه کوله، چې په اوولسمه پېړۍ کې گالیلیو کارولی و، یانې د ټیلي‌سکوپونو په مټ د ستورو رڼا مشاهده کول. خو د تجربو په جریان کې معلومه شوه، چې د مشاهدې وړ رڼا د اصلي کاینات ډېره کمه برخه ده. د الکترونیک او راکټ ساینس له پرمختگ سره د ستورپوهانو لاس ته داسې آلات راغلل، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسمان کې يې د هغوی پوهه تر ډېرو لرې فاصلو پورې ورسوله.

په ۱۹۳۱ز کې د بيل لابراتوار يوه انجينر کارل جانسکي ومونده، چې د ده راډيويي انتن داسې زيګنالونه رانيول، چې ماخذ يې په ځمکې کې نه دی. جانسکي معلومه کړه، چې دا زيګنالونه له اسمانونو نه را روان دي. په دې ډول راډيويي ستورپوهنه منځته راغله، چې مقصد يې دا و، چې له اسماني اجسامو نه راتلونکې راډيويي څپې مطالعه کړي.

نن ورځ د ځمکې په مخ ګڼ شمېر رصدخانې جوړې شوې دي، چې په لوی شمېر کې قاب ته ورته لوی، لوی انتنونه نصب شوي دي. په دې ځای کې له عالمِ بالا نه راتلونکې راډيويي څپې ترلاسه کېږي او تجزيه يې کېږي.

له نورو څېړنو وروسته معلومه شوه، چې د تشعشع نور قسمونه هم شته. اېکس وړانګې، ماوراًبنفش وړانګې، انفراريډ وړانګې، او داسې نور. دا څپې چې له پاسه راځي، د ځمکې په فضا کې جذبېږي. خو له فضايي دور نه دمخه انسان په دې خبره نه پوهېده. نن ورځ مصنوعي سپوږمکۍ چې په راز راز وسايلو سمبالې وي، د ځمکې شاوخوا ګرځي او دغه ډول څپې اخلي او د هغو په هکله انسان ته خبرداری ورکوي. دغه راز نوي فرعي علوم هم ايجاد شوي دي، مثلاً د اېکس وړانګو ستورپوهنه، د ماوراًبنفش وړانګو ستورپوهنه او داسې نور.

د اوسنۍ پېړۍ په دريمه لسيزه کې امريکايي ستورپوه هبل (**Edwin P Hubble**) د ماؤنټ ويلسن (کاليفورنيا ايالت) د سل انچه قطر لرونکي ټيلي‌سکوپ نه ګټه واخيسته او دا يې معلومه کړه، چې کاينات د پراخېدو په حال کې دی، هغسې چې په پوکانۍ کې چې هوا ډکوي او هغه ورسره پراخېږي. د ستورپوهنې په اصطلاح کې دې پېښې ته ريډ شفټ (**Red Shift**) ويل کېږي.

خو د دې پراختيا وجه څه ده؟ د بلجيم ساينسپوه ليمايټر په ۱۹۲۷ز کې دې سوال ته يو ځواب ورکړ. ده وويل، چې ډېر پخوا د کايناتو په ابتدا کې د ټول کاينات ماده د يوې ډېرې کلکې ټوټې په بڼه وه. دې ټوټې ته ده د سوپر اټوم (**Super atom**) نوم ورکړ. تر هغه وروسته دې سوپر اټوم انفجار وکړ او ماده يې څلورو خواوو ته په خورېدو شوه. له اوږدو زمانو وروسته د مادې دا توپان د کهکشانونو، ستورو او سيارو په شکل کې خپور شو، دې انفجار ته اوس بيګ بينګ (**Big Bang**) ويل کېږي.

د کايناتو وروستی انجام څه دی؟ د ستورپوهانو قياس دا دی، چې د کايناتو پراختيا به ورو په ورو کمه شي، له هغه وروسته به ودرېږي او بېرته به يې ټولېدل پيل شي. د دې مفروضې له مخې د کايناتو اخري انجام به دا وي، چې ټول کاينات به راټول شي او بېرته به د سوپر اټوم حالت ته ورسېږي. دا بېله خبره ده، چې دا دواړه بهيرونه به لسګونه بيليونه کاله واخلي.

د پريسنټن پوهنتون پروفيسور جان ويلر حساب لګولی دی، چې کاينات به بالاخره غونج شي او د بليک هول په څېر به منجمد شي او بيا به انفجار وکړي. او بېرته به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخېدو هماغه عمل پیل شي، چې په ابتدا کې ورسره شوی و.

په ۱۹۴۸ز کې برتانوي ستورپوهانو د خپلې مطالعې په جریان کې وموندله، چې په پاسنی فضا کې انرژي انشقاق کوي. او دا انشقاق به په دومره ټاکلي وخت کې و، چې دوی قیاس وکړ، چې دا د یوه بل تمدن (Civilization) د ارادي عمل پایله ده، چې د خلا په کومه برخه کې له انسان پرته موجود دی. له دې ځایه چې کومې راډیویي څپې راتللې، د هغو صحت دومره ډېر و، چې د ۱/۱۰۰ میلیون په اندازه د ساعت وخت وربانديې صحیح کېدلی شوی. وروسته د ستورپوهنې علماوو دا نظریه وړاندې کړه، چې دغه راډیویي څپې له یوه نوي قسم ستورو نه راتللې، چې د نیوټران ستورو نوم یې ورکړ. د همدې ستورو بل نوم پلسار دی.

رابرټ هیچ‌لیمنگ په دې اند دی، چې بلیک هول په اصل کې وایټ هول دي، چې زموږ په یوه ګاونډي کاینات (Neighboring Universe) کې واقع دي. د ده خیال دی، چې د کایناتو د وروستۍ چاودنې پایله به دا وي، چې ټول اجرام به یو ځای شي او د یوه کایناتي بلیک هول بڼه به واخلي او د پراخېدو او انجماد او انشقاق یو نوی عمل به پیل شي.

د کویسار معامله تر دې هم ډېره عجیبه ده. له تجربو معلومه شوې ده، چې دا اجرام له نورو ټولو ستورو نه په ډېره لرې فاصله کې واقع دي، خو دې سره سره چې هغوی په سترګو لیدل کېږي، نو د دې معنا دا ده، چې هغوی په ډېره لویه کچه رڼا تولیدوي، شاوخوا د لمر ۱۰ میلیونه میلیونه برابره. تر اوسه پورې ۲۰۰ کویسار کشف شوي دي. کېدی شي چې له ځمکې نه د هغوی فاصله ۱۲ زره میلیونه نوري کاله وي. دې نه مراد هغه فاصله ده، چې رڼا یې په دوولس زره میلیونه کاله کې ووهي او سرعت یې په یوه ثانیه کې ۱۸٦۲۰۰ میله وي! ځینې علماء په دې اند دي، چې کویسار به شاید د کایناتو وروستۍ کناره وي او شاید تر ټولو لرغونې اسماني اجسام به وي. د معلومو طبیعي قوانینو له مخې د دې نه قیاس کېدونکو اجرامو توجیه نه کېږي. دوی وایي، چې اوس وخت راغلی دی، چې د فزیک نوي قوانین کشف شي، چې له نویو کشف شویو حالاتو سره یې مطابقت وشي.

د کایناتي شواهدو د توجیه لپاره نویو قوانینو ته د اړتیا په خبرې ساینسپوهان په اصل کې هماغه خبره تکراروي، چې له دې نه مخکې نیوټن کړې وه، چې «د ستورو د ګردشونو د توجیه لپاره د ستورپوهنې یوازې معلوم قوانین بسنه نه کوي، د دې لپاره یو «خارجي لاس» منل هم ضروري دی.»

په پای کې د یوې امریکایي مجلې لنډ اقتباس ته تم شئ:

«آیا د بلیک هول انجام د کاینات وروستی انجام دی؟ ویلر په همدې نظر دی. په یو څو بیلیونه کاله کې به داسې وشي، چې کهکشانونه به سره کش شي او په یو بل کې به مدغم شي. د هغو له ادغام نه به یو ستر بلیک هول جوړ شي، چې هلته به د کایناتو اوسني قوانین

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ماتې ونه خوري، بلکې يو برتر شکل به اختيار کړي.» دا د ويلر خبره ده. له دغه ډول نظرياتو وروسته کايناتي ساينس ميتافزيک ته ورنيږدې کېږي.»

په قرآن کريم کې راغلي دي، چې ځمکه او اسمان سره نښتي وو (ګواکې د سوپر اټوم په حالت کې و) بيا الله سره جلا کړل (د بګ بينګ چاودنه وشوه)؛ بيا چې په څه ډول د تخليق ابتدا وشوه، هماغسې به بېرته وګرځول شي (کاينات به بېرته د سوپر اټوم شکل اختيار کړي). بيا به نوې ځمکه او اسمان پيدا شي (کايناتي قانون به بهتر شکل غوره کړي). په قرآن کريم کې چې څه ويل شوي وو، ساينس په څومره صحت سره د هغې تصديق کوي!

### فزيک له ميتافزيک سره اوږه په اوږه

په اوسنۍ زمانه کې يوه نوې اصطلاح منځته راغلې ده، چې (ETC) يې بولي. دا اصطلاح د يوې انګريزي کلمې لنډيز دی: **Extra-Terrestrial Civilization**؛ ياني مافوق‌فضا تمدن. د اوسنۍ زمانې د ساينسي څېړنو په برکت د انسان په علم کې داسې واقعات اضافه شوي دي، چې په دې خبره باندې يې يقين کولو ته مجبوروي، چې له ځمکې نه علاوه هم په فضا کې ځيرک موجودات شته دي. مثلاً له پاسنۍ فضا نه په ډېر صحت سره زيګنالونه ترلاسه کېږي چې د هغو زيګنالونو د مطالعه کولو لپاره يو مستقل فن (راډيو استرونومي) ايجاد شوی دی. نويو مشاهداتو ثابته کړې ده، چې د ارتقا نظريه د ځمکنيو ژوند د توجيه لپاره ولې کافي نه ده. نو اوس قياس دا دی، چې په ځمکه باندې ژوند له کومې بالايي کرې نه راغلی دی او په هغه کره باندې له موږ نه ډېر پرمختللی تمدن موجود دی، دې نظريې ته د پينس‌پرميا نوم ورکول شوی دی.

نن ورځ په لوی شمېر داسې مقالې او کتابونه نشرېږي، چې موضوع يې دا وي، چې آيا د کاينات په کومه بله برخه کې هم ژوند موجود دی؟ يوه اخبار يوه مقاله خپره کړې وه، چې عنوان يې و:

**Hello! Hello! Anyone Out There**

(سلام! سلام! څوک شته؟)

يوه الماني رياضي پوه (**H Freudenthal**) په ۱۹۶۰ز کې يوه کايناتي ژبه وړانديز کړې وه، چې له فضايي اوسېدونکو سره د خبرو اترو لپاره کار ورکړي. سره له دې چې ۱۷-۱۹ پېړيو کې هره سياره ان لمر هم د ژوند مسکن ګڼل کېدله.

خو اوس د کايناتو په نورو برخو کې چې د کوم ژوند په اړه يقين رامنځته شوی دی، هغه تر پخوا ډېر مختلف او بامعنا دی. داسې ښکاري، چې د انسان علومو دی بېرته د خدای د عقيدې په لور روان کړی دی. البته دی د «خدای» نوم ورته نه کاروي او په ځای يې د «پرمختللي تمدن» نوم اخلي. شايد تاريخ يو ځل بيا خپل ځان تکراروي.

**که خلک غوږونه ولري، نو د حقيقت د ويلو لپاره اعلانونو ته اړتيا نشته. د کايناتو خاموشه ژبه هره شېبه تر هغه په ډېر بهتر شکل کې د حقيقت څرګنداوی کوي، چې يو انسان يې د خپل ليک يا وينا په ذريعه څرګندولی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د سلیمان بن عبدالملک (مړ ۹۹هـ) د ستاینې لپاره دا بس ده، چې ده د راشده خلافت په زرین لیکلړ کې پنځم راشد خلیفه (عمر بن عبدالعزیز) هم اضافه کړ. خو عجیبه خبره دا ده، چې د همدې اموي حاکم په برخه کې تاریخ هغه واقعات هم لیکلي دي، چې وروستۍ پایله یې د هغو دوو سترو المیو په څېره کې راښکاره شوه، چې د یوې نوم اسپانیه او د بلې نوم هندوستان دی. که سلیمان بن عبدالملک له اسپانیې نه طارق او له هندوستان نه محمد بن قاسم په معتوب ډول بېرته نه وای غوښتلي، نو شاید د دې دواړو هېوادونو تاریخ به هغسې نه و، چې په وروسته دور کې لیدل کېږي.

## په اسپانیه کې څه وشول؟

سلیمان بن عبدالملک واک ته له رسېدو وروسته لومړنی کار دا وکړ، چې مازې د یوه شخصي مشکل په اساس یې د افریقا والي موسی بن نصیر او د هغه سپه سالار طارق بن زیاد (د اسپانیې فاتح) له خپلو دندو معزول کړل او بېرته یې وغوښتل. اولنی شخص یې زندان ته ولېږه او دوهم یې نظر بند کړ. د دې طبیعي پایله دا شوه، چې د اسپانیې په اسلامي حکومت او د خلافت د مرکز په منځ کې له ابتدا نه لا حریفانه جذباتو سر ونیوه. په ۱۳۲هـ کې چې له خونړي انقلاب وروسته د دمشق د اموي سلطنت تغر ټول شو او په نوي دارالخلافت بغداد کې د عباسي خلافت بیرغ ورپېده، نو د اموي کورنۍ یو لوټې شوی شهزاده عبدالرحمن الداخل اسپانیې ته ورسېده او د هغې سیمې له حالاتو نه یې استفاده وکړه او په اسپانیه کې یې خپل حکومت جوړ کړ. د بنو امیه د یوه فرد دا کامیابي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عباسیانو لپاره د زغم وړ نه وه. په دې سره د اسپانیې او د خلافت د مرکز په منځ کې د رقابت یوه بله وجه هم پیدا شوه او په پایله کې یې د خپلمنځې اخ و ډب هغه لایتناهي سلسله وچلېده، چې یوازې هغه مهال پای ته ورسېده، چې کله په اسپانیه کې پخپله اسلامي سلطنت هم ختم شو.

د خلافت د مرکز او اسپانیې دا رقابت تر دې حده وغځېده، چې هغه خلافت چې طارق بن زیاد یې له درنو مرستو سره د اسپانیې فتحې ته استولی و، د فرانسې پاچا شارلمان یې ولمساوه، چې په اسپانیه باندې برید وکړي. پایله یې دا شوه، چې په اسپانیه کې یوه عمومي کورنۍ جګړه او د بغاوت فضا پیدا شوه. د هرې سیمې والي د خپلواکۍ خوبونه ولیدل. د قرطبې د امیر خپلوانو دا نازکې شېبې د اسپانیې د تاج و تخت لپاره د سازش کولو زرین فرصت ولیده. ځایي عیسویانو ته موقع په لاس ورغله، چې له باغي مسلمانانو سره په ګډه په هر ځای کې شورشونه پیدا کړي. د اسپانیې له اموي خلافت وروسته د اسپانیې هېواد په وړو، وړو دولتونو ووېشل شو، چې قرطبه، اشبیلیه، غرناطه، بلنیه، طلیطله، مالقا او داسې نور ښارونه یې خپلې پلازمېنې وګرځولې.

طارق بن زیاد په ۹۲هـ (۷۱۱ز) کې په اسپانیه کې پښه ایښې وه او په ۸۹۷هـ (۱۴۹۲ز) کې له اسپانیې نه د اسلامي اقتدار ټغر ټول شو. په دې اته سوه کلنه اوږده موده کې یوه ورځ هم داسې نه ده تېره شوې، چې له بغاوتونو او شورشونو نه دې خالي وي. دا حقیقت دی، چې اسپانیې زیاتره ډېر تکړه مسلمان حاکمان ولیدل. د عدل او انصاف له پلوه هم او د تمدن او سیاست له پلوه هم. او بې له شکه هغوی په ستونزمنو حالاتو سربېره، د تمدن او سیاست له پلوه په اسپانیه کې یو ستر تاریخ پرېښوده. خو دروني حالاتو او د خلافت د مرکز د لمسون په اساس د هېواد عیسوي وګړو پرلپسې بغاوتونو ته تمایل درلوده، چې له امله یې هغه ماحول ونه غوړېده، چې د هغه مهم کار بنیاد کېښودل شي، چې اسلام د قلمرو پراخونې او نړۍ نیونې په ډګر کې ټاکلی و. یانې د دین د تبلیغ او اشاعت کار. عربي ټاپووزمه او د شاوخوا ډېری هېوادونه چې په خومره موده کې په بشپړه توګه د مسلمان نفوس هېوادونه وګرځېدل، له هغه نه د ډېرې مودې په لرلو باوجود اسپانیه د مسلمان نفوس هېواد نه شو.

په اسپانیه کې د اسلامي حکومت مثال تقریباً همغسې دی، لکه له ازادي نه مخکې په هندوستان کې د انګرېزانو د حکومت مثال. انګرېزانو په هندوستان کې په خپله سل کلنه واکمنې کې هېواد له زبردستو تمدني پرمختګونو نه مالامال کړ. سره له دې چې دوی هغه غلطي ونه کړه، چې د اسپانیه مسلمانانو کړې وه. دوی په ټول هېواد کې د عیسوي مبلغینو جال خور کړ او هغوی ته یې بې حسابه اسانتیاوې ورکړې، خو په مسیحي مذهب کې دومره زور نه و، چې د دې هېواد نفوس دې د ځان همګروهه کړي. پایله یې دا شوه، چې کله له هندوستان نه د انګرېزانو جرړې ولټېدې، نو پرتمینو ودانیو او لویو لویو پلونو هېڅ ګټه ورته ونه رسوله او دې ته مجبور شول، چې له هندوستان سره مخه ښه وکړي او خپل وطن ته ستانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کومه اسلامي جذبه چې طارق بن زياد د اسپانيې په خاوره قدم ايښی و، که هماغه جذبه پاتې وای او د يوه ټينګ حکومت روايت جوړ شوی وای، نو په اسپانيا کې به له مسلمانانو پرته د بل هيچا نوم هم نه و. په سيند باندې له تېرېدو وروسته هم طارق بن زياد په خپله اوږده دعا کې د **رَّبِّ لاَ تَذَرْ عَلَى الأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا** آيت د دعا په ډول نه و تکرار کړی. بلکې خپله اراده يې اظهار کړې وه، چې غواړي دا هېواد له کفر او شک نه خالي کړي او د اسلام په زانګو يې بدل کړي. د اسلامي اسپانيا په ابتدايي تاريخ کې موږ ګورو، چې عيسويان په کثرت سره د اسلام غېږې ته ځانونه سپاري. خو بس په څو کلونو کې د دې سيمې د سياست لوری داسې بدل شو، چې د دين د تبليغ کار بالکل شاته وغورځېده. په ۱۳۲هـ کې چې د خلافت په مرکز کې بدلون راغی او د بنو اميه په ځای د بنو عباس واکمني راغله، نو دغه ذهنيت نور هم ډېر پياوړی شو. په دې چې عباسيانو چې څومره دلچسپي د تمدن او علومو و فنونو له پيشرفت سره لرله، هغومره دلچپسي يې د دين له اشاعت سره نه وه. دغه راز د بغداد په اغېز کې قرطبه هم د تمدن او علومو و فنونو مرکز خو وګرځېده، خو د دين د خپراوي په مرکز بدله نه شوه.

همدا وه، چې په اسپانيا کې چې کله حالات بدل شول، نو د دې ځای په مسلمانو لړکيو باندې عيسوي اکثريت د سترګو په رپ کې غالب شو او د الحمرا بې مثاله ماڼۍ مسلمانانو ته هېڅ ګټه ونه رسوله. دا چې په عامو خلکو کې عيسويان په غلبه کې وو، نو ځکه په ۹۰۴هـ کې چې کله د قرطبې له لاندې کولو وروسته د مسلمانانو په خلاف اخ و ډب پيل شو، نو په ټول هېواد کې د مسلمانانو د پټېدو لپاره هېڅ ځای هم نه و. عيسويان چې څنګه غالبه شول، په ټول هېواد کې يې خپلې مذهبي محکمې جوړې کړې، چې هره ورځ به زرګونه مسلمانان ورته لاس تړلي راوستل کېدل او په راز، راز تورونو به په اورونو کې سوځول کېدل. په ۹۰۴ز کې يو عمومي فرمان جاري شو، چې هر هغه شخص چې مسلمان دی، مسيحي مذهب ته دې غاړه کېږدي، که نه وي، هر ځای چې وموندل شو، سر به يې له تېغه تېر کړای شي. ځينې مسلمانانو په کښتيو کې سپاره شول او افريقا ته يې حرکت وکړ، خو هغوی د افريقا ساحل ته نه وو رسېدلي، چې په سمندر کې غرق کړای شول. بلاخره هېڅ توحيد پرست هم د اسپانيا په خاوره کې ژوندی پاتې نه شو. عيسويانو يا ټول له تېغه تېر کړل. يا يې په سمندر کې غرق کړل. يا يې په اورونو کې وسوځول.

**(۲)**

له څلورو خلفاوو وروسته اسلامي حکومت د بني اميه لاسونو ته ولوېده، چې بنسټګر يې امير معاويه (مړينه ۶۰هـ) و. د دې لړۍ پنځم فرمانروا عبدالملک بن مروان و. په ۸۶هـ کې عبدالملک سترګې پټې کړې او له مړينې دمخه يې خپل دواړه زامن وليد او سليمان د وليعهد په توګه وګمارل او د ټولو ولايتونو د واليانو او چارواکو په نوم يې فرمانونه وليکل، چې د واړه اختر په اجتماع کې دې د شوال په لومړۍ نېټه، ۸۶هـجري کې د وليد او سليمان د وليعهدي لپاره بيعت واخيستل شي. همدا و، چې په ټولو اسلامي هېوادونو کې په ټاکلې نېټه د دې دواړو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليعهدي لپاره بيعت واخيستل شو. همدا خبره وه، چې د مدينې مشهور محدث سعيد بن مسيب له بيعت نه د انكار كولو په وجه په درو ووهل شو.

د عبدالملك بن مروان (۸٦- ۲۳هـ) له مړينې وروسته چې كله مشر زوی وليد په تخت كېناست، نو ده هڅه وكړه، چې له ځانه وروسته د واك وراثت د خپل ورور (سلمان) په ځای خپل زوی (عبدالعزيز) ته انتقال كړي. وليد بن عبدالملك خپل ورور سليمان ته وليكل، چې دی دې په خپله خوښه له وليعهدي نه تېر شي. سليمان چې دې كار ته اماده نه شو، نو وليد يو بل چم وكړ. ده د هېواد ټول واليان او مخور افراد د ځان خواته مات كړل او پرېكړه يې وكړه، چې په كومه ورځ به په يوه خاصه اجتماع كې په ټولو اسلامي هېوادونو كې د سليمان بن عبدالملك د وليعهدي فسخه كېدل اعلان كړي او په ځای به يې د عبدالعزيز د وليعهدي لپاره له خلكو نه بيعت واخلي.

خو د دې طرحې له بشپړېدو دمخه په ۱۵ جمادي الثاني ۹٦هـجري (فبروري ۸۱۵ز) كې وليد له دنيا نه سترګې پټې كړې. د وليد بن عبدالملك له مړينې وروسته چې سليمان بن عبدالملك د واك په ګدۍ كېنوست، نو طبيعي خبره وه، چې دی د هغو سردارانو دښمن شو، چې له واك نه د ده د بې برخې كولو په سازش كې يې د ده له ورور وليد سره لاس يو كړی و. په هغو كې يو تن حجاج بن يوسف و، چې په ختيځ كې د اسلامي هېوادونو وايسرای و او د مغربي هېوادونو وايسرای موسی بن نصير و. د حجاج د واك سيمه عراق وه او د موسی بن نصير قيروان. دوی دواړو د وليد د طرحې ملاتړ كړی و، نو ځكه دواړه د سليمان په سترګو كې بدترين دښمنان وو، چې تر هر څه دمخه له دوی دواړو سره د حساب تصفيه كول د خليفه لپاره ضروري و.

حجاج، د سليمان بن عبدالملك له واك ته رسېدو نه اته مياشتې دمخه په شوال ۹۵هـ كې وفات شوی و. نو ځكه د سليمان لاسونه اوس حجاج بن يوسف ته نه شوی رسېدی. خو د حجاج خپلوان د انتقامي جذباتو د سړولو لپاره موجود وو، چې په سر كې يې د حجاج د تره زوی او زوم محمد بن قاسم و، چې په سند (اوسني پاكستان) كې يې غيرمعمولي فاتحانه كارنامې ترسره كړې وې او د حجاج نوم او شهرت ته يې د عروج بام ته رسولی و.

محمد بن قاسم د ډېرې اعلی درجې د قابليت سپه سالار و. د يوه مؤرخ په خبره «ده د سند او هند په فتوحاتو كې يوه لور ته ځان له رستم او سكندر نه هم ځان ډېر زړور ثابت كړ او بل لور ته له عادل نوشيروان نه هم زيات عادل او ولس‌پاله واكمن وخوت.» دې ځوان او فاتح سردار په سند او پنجاب كې دومره په تېزۍ سره لاره وكړه او له بركته يې كلي په كلي داسې د اسلام په دايره كې داخل شول، چې داسې معلومېدل، چې ډېر ژر به ټوله علاقه په اسلامي سيمه باندې بدله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هندوستان په سفر باندې محمد بن قاسم د حجاج له لوري استول شوی و، د دې سفر لپاره حجاج څومره اهتمام کړی و، د هغې اندازه به له څو مثالونو وشي:

**۱-** حجاج په نور ټول سامان او توښې سربېره ۳۰ زره دیناره خاص محمد بن قاسم ته ورکړي وو، تر څو د ناڅاپي ضرورت په وخت کې يې په درد وخوري (میرمعصوم). ويل کيږي، چې د لښکرکښنې په دې سفر کې ټول شپېته میلیونه درهم مصرف شوي وو.

**۲-** د سامان په برخه کې د حجاج دې قدر ته پام و، چې فکر يې وکړ، چې محمد بن قاسم به د عربانو د عادت له مخې په خوړو کې سرکې ته اړتیا لري. نو ده ډېره زیاته پنبه په سرکه کې لمده کړه، بیا يې وچه کړه او محمد بن قاسم ته يې ورولېږله او ورته ويې ليکل، چې هر کله دې سرکې خوړلو ته زړه کېده، نو دا پنبه په اوبو کې خیشتوه او نښتېځه يې.

**۳-** پنځه لوی منجنیقونه (توپونه) چې د ډېر وزن له امله د وچې له لارې نه شوی تللی، په یوه لویه کښتۍ کې د سند ساحل ته واستول شوو. دا منجنیقونه دومره ستر وو، چې د هر یوه د چلولو لپاره يې پنځه سوه کسانو ته اړتیا وه.

**۴-** د دې ټول سفر په جریان کې د حجاج او محمد بن قاسم ترمنځ د ليکونو لړۍ روانه وه. حجاج په بصره کې و او محمد بن قاسم په سند کې. خو ترتیب يې داسې کړی و، چې هره دریمه ورځ به يو خط حجاج ليکه او بل لوري ته به محمد بن قاسم هم د ټولو مصروفیتونو په خوا کې هره دریمه ورځ د حجاج په نوم مفصل حالات ليکل. د پوستې د لېږد لپاره يې داسې ځانګړي ترتیبات کړي وو، چې د دېبل (سند) او بصرې په منځ کې زرګونه میله فاصله وه، خو بیا به هم په اوومه ورځ له بصرې نه دېبل او له دېبل نه بصرې ته خطونه رسېدلي وو.

محمد بن قاسم په ۹۵هـ کې ملتان فتح کړ. اوس يې په ټول سند باندې ولکه وه. له عرب سمندرګي نه تر کشمیره پورې ټولو راجاګانو او سردارانو د اسلام عظمت ته غاړه ايښې وه. اوس نوموړي په ټول برصغیر کې د اسلام د خپراوي طرحه جوړه کړه او د قنوج په خوا يې حرکت وکړ. دی په دې فکر و، چې په قنوج باندې له قبضې وروسته به د پاتې سیمو د فتوحاتو دروازه هم خلاصه شي. خو په ۹۶هـ کې سلیمان بن عبدالملك د واك په ګدۍ باندې کېنوست. سلیمان غوښتل، چې د حجاج غچ د هغه له خپلوانو نه واخلي. سلیمان له يوې خوا له حجاج نه وروسته یزید بن مهلب د عراق والي وګماره او يو خارجي المذهب صالح بن عبدالرحمن ته يې د خراج د ټولولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنده وسپارله. دا دواړه د حجاج بدترین دښمنان وو. همدا وه، چې د سلیمان د امر له مخې دې دواړو د عقیل نسل (د حجاج کورنی) خلك په راز، راز طریقو ماخوذ کړل او د هغو په وژلو یې بنا وکړه.

بل لوري ته سلیمان د سند له ولایت نه د محمد بن قاسم د معزولي فرمان صادر کړ، چې بې له دې یې بله هېڅ ګناه نه وه، چې د حجاج بن یوسف د تره زوی او زوم و او په دې وجه چې د حجاج مشهور خپلوان و، نو د هغه په وژلو سلیمان د خپل انتقام لمبې سړولی شوی. سلیمان د محمد بن قاسم په ځای یزید بن ابی کبشه د سند حاکم مقرر کړ. نوی حاکم د خلافت له امر سره سند ته ورسېده. هغه محمد بن قاسم بندي کړ او د مجرمانو په څېر یې کلکې جامې ور واغوستې. لاس او پښو ته یې زولنې ور واچولې او د معاویه بن مهلب په لاس یې عراق ته ولېږه. دا هم د محمد بن قاسم سعادتمندي وه. که نه وي په سند کې د ده مقبولیت دومره ډېر و، چې د خلیفه له امر نه په سرغړونې سره یې کولی شوی، چې پخپله یزید او مهلب دواړه بندیان کړي.

د فتوح البلدان د قول مطابق د عربي مشهور شعر په همدې شېبه کې د محمد بن قاسم په خوله راغلی و چې:

| | |
|---|---|
| **اضــــــاعونی و ای فتــــــی اضــــــاعوا** | **خلکو زه ضایع کړم او څنګه ځوان یې ضایع کړ،** |
| **لیـــــوم کریهتــــــه و ســــــداد ثغـــــر** | **هغه چې د مصیبت په ورځو کې په کار راځي او د سرحدونو ساتنه کوي.** |

له دې ځایه محمد بن قاسم دمشق ته یوووړل شو. همالته د سلیمان په امر د واسط په بندیخانه کې بندي کړای شو او دلته ورباندې د زندان د مشر په حیث صالح بن عبدالرحمن مسلط و، چې په زندان کې یې په راز، راز کړاوونو د بلې دنیا مسافر کړ.

یوه مؤرخ د دې واقعاتو په ترخ کې لیکلي دي چې:

«که د ولید بن عبدالملك ژوند څو ورځې نوره وفا کړې وای. یا پخپله سلیمان له عقل او فکر نه کار اخیستی وای او محمد بن قاسم یې پرې ایښې وای، نو شاید د اسیا تاریخ به نن ورځ بل راز وای.»

همدا مؤرخ زیاتوي، چې «د محمد بن قاسم په زمانه کې خلك په کثرت سره د اسلام دین ته رامات وو. د دیني تبلیغ هغه رښتینې او سالمه هڅه چې ده په څو ورځو کې په عملي بڼه وښوده، تر ده وروسته لویو لویو امپراتوریو هم ونه شوه ښودلی. دې تنکي سپه سالار د څو ورځو په واکمنې کې چې کوم ژور اغېز ښندلی و، هغسې اغېز د پټانانو او مغلو سلطنتونو په پنځه سوه کلونو کې هم په هېواد ونه شو ښندلی. له سند نه پرته په پاتې هېواد کې نن ورځ مسلمانان ډېر کم دي او په هېواد باندې یې هېڅ اثر نشته. خو په سند کې بیا تر ټولو لویه غلبه د مسلمانانو په لاس کې ده او دا یوازې د عربانو او په تېره د محمد بن قاسم له برکته ده.»

# لوړ فکر

د تېزو بادونو توپان چې راشي، نو ورې مرغۍ په دې توپان کې بندې پاتې شي. خو لويې مرغۍ بيا په ځپلو قوي وزرو الوت وکړي او له توپان نه پورته لاړې شي. او په دې ډول د توپان له دايرې نه دباندې ځان وباسي. د دې پېښې په رڼا کې يو امريکايي متل دی: د توپان ستره مرغۍ. (Big bird of the storm)

په همدې ډول، د فکر هم دوه سطحې دي. د ځينو خلکو فکر د نيږدې حالاتو په دايره کې سازېږي. د دوی فکر د شاوخوا له پېښو راڅرخېږي. په کومو مسايلو کې چې دوی نښتي وي، له هغو نه پورته فکر نه شي کولی. دوهمه ډله خلک هغه دي، چې «د توپان د لويې مرغۍ» په څېر له ځپلو نيږدې حالاتو راپورته کېږي او د حالاتو تر اغېز لاندې فکر نه کوي، بلکې له حالاتو لوړېږي او بيا ځپل دريځ ټاکي.

دې دوهم فکرطرز ته که کوم نوم ورکوو، نو شايد دا به صحيح وي، چې د سترې مرغۍ په طرز فکر کول. (Big Bird Thinking)

---

ډاکټر مسلمه خانم

## ډاکټر ته به مو اړتيا نه شي

يوه شخص، يو کليوال سړی وليده، چې د عمر په شپېته کلنۍ کې و، خو په صحت ښه روغ او سرګرم ښکارېده. سړي ورنه وپوښتل، چې ستا د صحت راز په څه کې دی؟ کليوال سړي ځواب ورکړ: «چې هر کله مې په زړه کې راګرځي، چې ډوډۍ وخورم يا يې ونه خورم، نو زه تل (نه يې خورم) ته ترجيح ورکوم.»

دا خبره چې يوه نالوستي کليوال سړي وکړه، همدا خبره سقراط په دې ټکو کې کړې ده، چې «تر هغو ډوډۍ مه خورئ، چې له لوږې نه بې تابه او ناکراره نه شئ.»

د انسان ځواک په خوړو کې دی، خو دا هم يو واقعيت دی، چې همدا خواړه د ټولو مرضونو جرړه هم ده. ناسم خوراک يا ناقص خوراک چې څومره مضر دی، همدومره مضره دا خبره هم ده، چې انسان په نه لوږه ډوډۍ وخوري يا له اړتيا زياته خپله ګېډه ډکه کړي. د روغتيا راز په يوه کلمه کې دا دی: «سم خوراک په معتدله اندازه.»

که انسان يوازې همدا يو اصول سم عملي کړي، نو ټول ژوند به يې هم ډاکټر ته ضرورت نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا یا کرتب

یو شخص چې د حکومت په کومه برخه کې د دندې لپاره د وظیفې فورمه ډکه کړې، نو دې ته نوملیکنه ویل کېږي. څو که د دې په ځای دی په خپل کور کې سر ښکته او پښې پورته ودرېږي، او دا باور ولري، چې که په همدې حال کې اووه ورځې پاتې شم، نو دنده به ترلاسه کړم، نو دا کار یې کرتب دی. نوملیکنه کول یو ډېر معقول کار دی. څو کرتب بیا یو ډېر بې معنا کار.

په همدې ډول له خدای نه په غوښتلو کې هم یوه د دعا طریقه ده او بله د کرتب طریقه. دعا دا ده، چې انسان په خپلو حاجتونو او ستونزو کې خدای ته رجوع وکړي، خدای ته وژاړي او زارۍ ورته وکړي، د خپل حاجت د پوره کېدو غوښتنه ورنه وکړي. دا عین مطلوب کار دی. په حدیث کې راغلي دي، چې د بوټانو تسمه مو هم چې وشکېږي، هغه هم له خدایه وغواړئ.

څو ځینو ځلکو د دې په څوا کې د کرتبونو ځینې طریقې هم راایستلې دي. مثلاً پلانۍ کلمه دومره ځله تکرار کړئ، نو د بلا مخ به درنه واوړي، په پلانۍ وخت کې پلانکی عمل وکړئ، نو حاجتونه به مو پوره شي. پلانی نقش په کاغذ ولیکئ، او دومره ورځې یې په ځان پورې وتړئ، نو دښمن به مو له منځه لاړ شي، وغیره وغیره. دا ټول کرتبونه دي. دعا (الله رابلل) چې څومره بامعنی کار دی، د کرتبونو (عملونو) طریقه هغومره بې معنا ده. لومړنی طریقه عین اسلامي ده او دوهمه قطعاً غیر اسلامي.

---

## چې په مادي حالاتو کې هم روحاني دعاوې په ژبه وي

د مصر سردارانو چې په موسی علیه السلام د قتل تور پورې کړ، نو مشوره یې وکړه، چې حضرت موسی له تېغه تېر کړي. نو ده له مصر نه مدین ته مخه کړه. مدین په هغه زمانه کې د عقبه خلیج په ختیځو او لویدیځو کنارو باندې پرتې سیمې ته ویل کېدل، په دې سیمه کې بني مدیان اباد وو. دا ځای د مصر د فرعون له قلمرو نه وتلی و. د همدې لپاره حضرت موسی علیه السلام له مصر نه ووت او د مدین لوری یې ونیوه.

په قرآن پاک کې راغلي دي، چې موسی علیه السلام د وېرې او اندېښنې په حال کې خپله لاره لنډوله او له خولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې دا کلمه راووته: عَسَى رَبِّي أَن يَهْدِيَنِي سَوَاء السَّبِيلِ (قصص: ۲۲) **هیله ده چې رب مې سمه لار راوښیي.**

د قرآن بعضي مفسرینو دا آیت مازې د لارې د لټون په معنا اخیستی دی. یوه مفسر یې په تشریح کې لیکلي دي: «یاني داسې لاره چې په خیریت سره مدین ته ورسېږم.»

دا الفاظ د هغه کیفیت د ترجماني لپاره ډېر ناقص دي، چې د حضرت موسی علیه السلام په زړه کې پیدا شوی و. دا آیت یوه مؤمنانه کلمه ده، نه په عامه معنا کې مازې د لارې د مسافر دعا. سره له دې چې مادي حالاتو حضرت موسی علیه السلام له مصر نه د مدین په لاره روان کړی و. خو د مؤمن بنده دا حال وي، چې په مادي واقعاتو کې هم د ده له ژبې روحاني دعاوې راوځي. په ظاهره خو یو مؤمن په همدې ځمکه باندې خپله لاره لټوي، خو د ځمکې د لارې لټون د ده لپاره د راتلونکې دنیا په تذکیر بدل شي او د ده ذهن د آخرت وادیانو ته ورسوي. د ده ګامونه د دنیوي منزل په لور پورته کېږي، خو په ده کې یو دروني توپان چیغې وهي: «اې خدایه! ما هلته ورسوه، چېرې چې تا موندلی شم. ځکه د انسان حقیقي منزل هماغه دی.»

د حضرت موسی علیه السلام دا کلمه د یوه نازک ایماني کیفیت کلمه ده. دا کیفیت د سفر او جغرافیې په ټکو کې نه شي بیانېدی.

**د اسلام پیغمبر چې دین په خپله سوچه بڼه وړاندې کړ، نو معاصرینو یې محسوس کړه، چې نبي کریم ص د هغوی مشرانو ته سپکاوی کړی دی. د هغوی لپاره دا یقین کول مشکل و، چې د قریشو د قبیلې یو معمولي انسان په داسې حقیقت خبرېدی شي، چې د دوی هغو شخصیتونو ته دا پوهه نه ده راغلې، چې د خپل دودیز اعتقاد له مخې یې هغوی ته لوړ مذهبي مقام ورکړی و.**

هغه خلک چې په حقیقي معنا خپل رب ومومي، د هغو د ژوند سطحه له نورو نه بل راز وګرځي. په همدې دنیا کې له استوګنې سره، سره هغوی د اخرت جهان ته رسېدلي وي. هغوی د نن ورځې د لذتونو او کړاوونو په لیدو د سبا ورځې جنت او جهنم یادوي. د مؤمن حقیقت همدا دی، چې په دې دنیا کې د اخرت جهان وګوري، چې د غیبو په حالت کې د شهود حالت ته ورسېږي. په غیرمؤمن به هم هغه ورځ راشي، چې د اخرت جهان به په خپلو سترګو وګوري. خو دا به هغه وخت وي، چې د غیب او شهود فرق له منځه تللی وي، د قیامت چیغه به ټولې پردې څیرې کړې. خو د هغه وخت لیدل به چاته هېڅ په کار رانه شي، په دې چې دا به د جزا او سزا وخت وي، نه خپل د ایمان او یقین د ثبوت ورکولو وخت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمرو بن مرة الجهني رضي الله عنه په مدني دور کې اسلام قبول کړ. بیا خپلې جهنیه قبیلې ته ستون شو او هغوی یې اسلام ته دعوت کړل. د ابن عساکر د روایت له مخې د قبیلې یو شخص پورته شو او ویې ویل:

یا عمرو بن مرة! امرالله عیشک، اتامرنا برفض آلهتنا و ان تفرق جمعنا و ان نخالف دین آبائنا الشیم العلی. الی ما یدعونا الیه هذا القرشی من اهل تهامة؟ لاحبا ولا کرامة، ثم انشأ:

ان ابـــــن مــــــرة قــــــداتي بمقالــــــة    یومــــــا و ان طـــــال الزمــــــان ذباحــــــا
لیســـــت مقالــــــة مــــــن یریـــــد صــــــلاحا    لیســـــفه الاشـــــیاخ ممــــــن قــــــد مضـــــی
انــــــی لا حســــــب قولــــــه و فعالــــــه    مــــــن رام ذلــــــک لا اصـــــاب فلاحــــــا

اې عمرو بن مرة! خدای دې ژوند تریخ کړه. آیا ته راته دا خبره کوې، چې له خپلو معبودانو تېر شو. او دا چې موږ خپل ټولی تیت و پرک کړو او د خپلو پلرونو او نیکونو د دین مخالفت وکړو، چې په اعلی اخلاقو باندې وو. دا د تهامه قریشي سړی موږ ته د څه شي دعوت راکوي، ده کې خو نه کوم شرافت شته، نه کرامت. بیا یې دا اشعار ولوستل:

**عمرو بن مرة داسې خبره راوړې ده، چې د اصلاح غوښتونکو خبره نه ده. زما یقین دی، چې د ده قول او فعل به یوه ورځ تباه کوونکی ثابتېږي، سره له دې چې یو څه وخت به ونیسي. دی غواړي، زموږ اسلاف راته احمقان ثابت کړي او د چا چې ارادې دغسې وي، هغه هېڅکله بریا نه شي لیدلی.**



## د سپي خصلت

سپی چې یو څوک په تش لاس ووینې، نو ورباندې غپېږي او چې کله وګوري په لاس کې یې لښته ده، نو لکۍ په سر اړوي او د تېښتې لاره لټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوسنی مسیحي مذهب

په ګڼو مذاهبو کې دا غلطي پیښه شوې، چې په وروسته زمانو کې دا مذاهب د هغو علومو هم‌معنا غوندې شول، چې راوروسته مشرانو یې پنځولي وو. مثلاً ننني یهودیت په وروسته دور کې د پنځېدلي فقهي نوم دی او مسیحیت په راوروسته دور کې د پنځېدلي علمِ کلام.

په نوې عهدنامه (انجیل) کې څلور انجیلونه دي، چې د حضرت مسیح اقوال او احوال په کې راټول شوي دي. سره له دې چې په تاریخي اعتبار د دې انجیلونو صحت مشکوک دی. خو اوسنی مسیحیت د دې انجیلونو په ځای تر ډېره د سېنټ پال په نظریاتو بنا دی. یوه محقق لیکلي دي،

«په ډېره سمه معنا کې حضرت عیسی نه، بلکې سېنټ پال د مسیحي مذهب بنسټګر دی.»

اسپینوزا ویلي و: «په دې دنیا کې یوازې یو مسیحي و او هغه په دار وځړول شو.» یو خالي الذهن انسان هم چې نوې عهدنامه لولي، نو په ډېر هیښوونکي ډول دا خبرې ورته ربنتیا ثابتېږي. د نوې عهدنامې په ابتدایي څلورو څپرکو کې چې د حضرت مسیح د حالاتو او اقوالو خبرې دي، په هېڅ ځای کې هم د عقایدو هغه ټولګه نه ده یاده شوې، چې د نیقیا شورا (۳۲۵) د اعلان له مخې د مسیحیت نوم ورکول شوی دی.د کفارې عقیده چې ګواکې ټول مسیحیت همدا دی، په لومړي ځل سېنټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پال وضع کړه، چې حضرت مسیح علیه السلام یې لیدلی هم نه و. تثلیث بیا د سېنټ پال په نزد هم نشته، بلکې د توترلین (۲۳۰- ۱۵۰) ایجاد دی. همداسې نور عقاید هم درواخلئ. له هغه وروسته د حضرت مسیح دوولس ملګري یا شاګردان پاتې کېږي، چې ربښتیني مسیحیان ورته ویلی شو. خو پخپله د مقدس کتاب د روایت له مخې، کله چې رومي عسکرو حضرت مسیح ونیوه، نو «ټولو شاګردانو یوازې پرېښوده او ورنه وتښتېدل.» (مرقس، ۱۴: ۵۰)

انجیل یا نوې عهدنامه د ترتیب له مخې په ۲۷ کتابونو مشتمله ده. خو د «مقدس انجیل» کلمه په حقیقت کې تنها د ابتدایي څلورو کتابونو لپاره سمه راځي، چې متی، مرقس، لوقا او یوحنا ترتیب کړي دي او د حضرت مسیح حالات او اقوال په کې راغلي دي. نور ۲۳ کتابونه د وروسته وختونو د مسیحي مشرانو خطونه یا د هغو له مکاشفاتو او احوالو رغېدلي دي.

د مقدس کتاب یو لوستونکی تر ټولو دمخه غواړي په دې پوه شي، چې هغه مجلد کتاب چې د «مقدس انجیل» په نوم نن ورځ د ده په لاس کې دی، هغه کله او په کومه ژبه کې ولیکل شو. مګر د دې کتاب هېڅ تاریخ په قطعیت سره نه شي په ګوته کېدی.




**د فطرت سبق**

**ګاز چې ښکته ځای پیدا نه کړي، نو پورته الوځي او پاس خپل ځان ته ځای ګوري. اوبو ته چې غر لاره نه ورکوي، نو اوبه د نشیب په خوا خپله لاره باسي. ونه چې د سطحې په سر نه شي درېدی، نو ځمکه څیري کړي او په دې طریقه له ځمکې نه د خپل ژوند حق اخلي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معلومات نه، بلکې فکري رویه

د نوبل جایزه ګټل، په علمي نړۍ کې، د تر ټولو سترې لاسته راوړنې یو منلی معیار ګڼل کېږي. دا جایزه څنګه یو چاته ورکول کېږي؟ په کیمیا کې د نوبل جایزې ګټونکي ایچ اې کریبس په دې اړه څېړنه وکړه. دی وایي، چې د ستر ساینسپوه کېدو لپاره له اعلی وسایلو سمبال لابراتوار او له معاصرو اثارو څخه برخمنو کتابخانو نه هم یوه بله خبره ډېره اړینه ده او هغه دا ده، چې انسان ته د یو څه مودې لپاره د یوه ستر ساینسي شخصیت د صحبت او ملګرتیا فرصت په ګوتو ورشي.

کریبز د بېلابېلو سترو ساینسپوهانو اقوال راوړي او بیا یې ویلي دي، چې د لوړو ساینسپوهانو صحبت چې یوه انسان ته کوم ستر شی ورکوي، هغه د ساینسي حقایقو او ساینسي روښونو په اړه د معلوماتو انبارونه نه دي. دا دواړه شیان خو له هر ځایه ترلاسه کېدی شي. هغه څه چې حقیقي فرق پیدا کوي، هغه په اصل کې د نظر فیض دی، چې استاد یې خپل شاګرد ته انتقالوي. همدا د سترګو فیض له انسان نه رښتونی عالم (scholar) جوړوي، چې کریبز ورته د عمومي ساینسي روح (General Scientific Spirit) نوم ورکړی دی. کریبز وراندې لیکي:

«تر ټولو لویه خبره خو دا ده، چې یو ستر استاد یا ساینسپوه د خپل شاګرد ذهن ته د حقایقو په اړه د معلوماتو نه ډېر یوه ذهني رویه (attitude) انتقالوي. په دې ذهني رویه کې دوه خبرې په خاصه توګه ډېرې مهمې دي. یو، عاجزي (Humility) او بل شوق (Enthusiasm).



(c) ketabton.com: The Digital Library



مالګه که یو ټن هم وي، هېڅ مېرتون یې خواته نه ورځي. خو که بوره یو ګرام هم وي، نو د مېږیانو سلامت پوځ یې شاوخوا ته راټول وي. همدارنګه په قومونو کې هم یو مزاج وي. د کوم قوم چې «بوره» خوښېږي، هغه قوم په «مالګه» نه شئ راټولولی.

د مسلمانانو تر ټولو لویه کمزوري دا ده، چې اوس په «قوالي» خوښوونکي قوم بدل شوي دي. دوی همداسې یو شی ځانته ورکشوي، چې د قوالي تنده یې هم په کې ماتېږي. مذهبي قوالي، سیاسي قوالي او یا بله قوالي. همدا وجه ده، چې د داسې خوش اوازه په شاوخوا کې خو خلک ډېر ژر راټول شي، چې د کلماتو او نعرو سیندونه بهولی شي، چې شعرونه او نکلونه واوروي، چې د فضایلو او کرامتونو داستانونه بیان کړي. مګر د سنجیده اواز او اصلاحي دعوت په شاوخوا کې هېڅ کله څوک نه راټولېږي.

د لوېدا همدا مرحله ده، چې په قرآن کریم یې په اړه ویلي دي: د دوی حال دا دی، چې که سمه لار ویني، د لارې په توګه یې نه خپلوي، خو که د کوږوالي لار ویني، نو هغه د لارې په توګه خپله کړي. (اعراف: ۱۴۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## که خلک پوه شي، چې څنګه وېروونکې ورځ د دوی په لور په منډو را روانه ده، نو د دوی روان قدمونه به ودرېږي او د خبرو لپاره به الفاظ ورسره پاتې نه شي.

### په دې هینداره کې خپله څېره لیدی شئ




د خدای د وفادارو بندګانو مشاورین پرښتې وي او د خدای د باغیانو مشاور شیطان. هغه انسان چې د اختلاف په وخت کې د تواضع لمنه ونیسي، هغه د دې خبرې ثبوت ورکوي، چې ده ته دا توفیق ورکړل شوی دی، چې د خدای پرښتې یې مشاورې شي. په دې چې د پرښتو صفت دا دی، چې هغوی کبر نه کوي.

خو هغه خلک چې د اختلاف په وخت کې په ظلم او بې انصافي لاس پورې کوي او متکبرانه تګلاره انتخابوي، نو هغوی دا ثابتوي، چې هغوی شیطان خپل مشاور نیولی دی. په دې چې په قرآن کریم کې غرور او سرکښي یوازې د شیطان صفت ښودل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدای – د انساني فطرت اواز

**۱** – د فرانسې یوه فلمي اداکاره ګاینا لولوبرایګیډا په جنوري ۱۹۷۵ کې هندوستان ته تللې وه. هندوستان ټایمز ورځپاڼې لیکلي و، چې په خبري کانفرانس کې یې یو سوال او ځواب په دې ډول وو:

«د یوه سوال په ځواب کې چې آیا ته په خدای ایمان لرې، ګائنا وویل، زه په خدای ایمان لرم، زه په خدای ایمان لرم، او هغه وخت خو لا ډېر ایمان وربانديې لرم، چې په الوتکه کې سفر کوم.»

انسان چې کله په الوتکه کې سفر کوي، نو په بشپړ ډول د داسې خارجي اسبابو په لاسونو کې وي، چې د هغو په توازن کې معمولي فرق هم د ده د هلاکت لپاره کافي دی. د انسان همدغه بې وسي په بحري سفرونو کې هم وي. په قرآن کریم کې ارشاد دی: «آیا تا نه دي لیدلي چې په سمندر کې بېړۍ د الله په فضل چلېږي چې تاسي ته له خپلو نښانو څه در وښيي، په دې کې خو یقیناً د هر صبرناك شکر وېستونکي دپاره (ډېرې) نښانې دي. او کله چې د وریځو غوندې څپې یې را لاندې کړي، نو په سوچه عقیده سره الله رابولي، خو چې بیا یې وچې ته راخلاص کړي، نو څه (لږ) یې منځلاري پاتې شي او زموږ له آیتونو، پرته له هر بې لوزه او ناشکره بل څوك انکار نه کوي.»(لقمان:۳۱- ۳۲)

یو انسان چې هر څومره سرکښه او منکر هم وي، خو په ستونزمنو حالاتو کې بې اختیاره خدای رابولي. همدا د دې ثبوت دی، چې خدای د انساني فطرت اواز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲–** روسي ډیکتاتور ستالین (۱۹۶۴- ۱۸۷۹) له خدای نه منکر و. خو د ده په ژوند کې داسې واقعات شته، چې دا ثابتوي، چې په ستونزمنو شېبو کې به بې اختیاره خدای ور یاد شو. وینستن چرچل (۱۹۶۵-۱۸۷۴) د دوهمې نړیوالې جګړې په وخت کې په اګست ۱۹۴۲ز کې ماسکو ته سفر وکړ تر څو د هټلر په ضد د دوهم سنګر (Second Front) د ټینګولو لپاره له روسي رهبرانو سره مذاکره وکړي. چرچل په دې سفر کې د متحدو ځواکونو پوځي طرحه د ستالین مخې ته کېښوده، چې پټ نوم یې ټارچ (Torch) ورکړی و. دا چې ستالین پخپله هم د هټلر له مخ په وده بریدونو نه په وېره کې و، نو په دې پوځي طرحه کې یې ډېره زیاته دلچسپي وښوده. د چرچل په قول، د طرحې د تشریح کولو په وخت کې په یوه خاص پړاو کې چې د ستالین دلچسپي شدت ته ورسېده، نو له خولې یې ووتل:

**My God, Prosper this undertaking.**

**(خدایه! ته دا طرحه کامیابه کړې.)**

**۳–** د امریکا د ولسمشر رچرډ نیکسون د کورنۍ غړي چې د وروستي انځور لپاره سپینې ماڼۍ ته راټول شوو، نو په دې انځور باندې یې د حکومتي عکاس ډېر زیات وخت ونیوه، په دې چې ولسمشر او نور ټول خلک په ژړا وو او انځورګر دې ته په انتظار کې و، چې له اوښکو پرته یوه شېبه ومومي او انځور واخلي.

د واټرګېټ رسوایي په ټراو هغه پیټه چې د نیکسون د ولسمشرۍ ټغر یې ټول کړ، که ده غوښتلی، دا پیټه یې ختمولی شوی. او په دې سره به یې ولسمشري هم په خطر کې نه لوېده. خو ولسمشر نیکسون په دې حرص کې مبتلا و، چې له ولسمشرۍ وروسته به دا پیټه خرڅه کړي او ښه ښایسته مبلغ به ورباندې وګټي. خو د ده دا هیله پوره نه شو. د پیټې په اړه خلک خبر شول او د نیکسون په ولسمشرۍ باندې یې داسې زلزله راوسته، چې له ښکته کېدو پرته بله هېڅ لاره ورپاتې نه شوه.

د واټرګېټ رسوایي له افشا کېدو وړاندې رچرډ نیکسون دومره پرېشانه و، چې سم نیمایي لېونی شوی و. په سپینه ماڼۍ کې به په ژړا ناست و. او ان د ځانوژنې اراده یې کړې وه. خو د سختې څارنې له امله په دې کار کې بریالی نه شو.

په (The Final Days) یا وروستۍ ورځې نومي کتاب کې دا خبره بربنډه شوه، چې:

«چې کله د ولسمشرۍ پای نېټه رانیږدې شوه، نو نیکسون د بهرنیو چارو له پخواني وزیر هنري کیسنجر نه وغوښتل، چې له ده سره دې د خدای مخې ته ګونډه ووهي او دواړه دې په ګډه دعا وکړي. نیکسون ورته وویل: «نه ته ډېر پوخ یهودي یې، نه زه ډېر پوخ عیسوي. خو په دې وخت کې موږ دواړه دعا ته ضرورت لرو.» او په عیسوي طریقه یې ګونډه ووهله او دعا یې وکړه.

**۴–** په روس کې اشتراکي انقلاب په اکتوبر ۱۹۱۷ کې راغی. په دې ډول په یاد انقلاب باندې اوس پوره شپېته کاله تېر شوي دي (۱۹۷۷). د تازه سرشمېرنې له مخې د شوروي اتحاد په ۲۵ بیلیونه ښاریانو کې ۲۱ بیلیونه یې داسې وګړي دي، چې د اکتوبر له انقلاب وروسته پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي. یانې په یوه داسې ټولنه کې پیدا شوي دي، چې د روسي حکومت د ادعا له مخې لرغونی مذهبي نظام په بشپړه توګه له منځه وړل شوی دی.

د کمونیستي نظریې مطابق مذهب، د پانګوالي نظام بچونی و. د پانګوالي نظام له ختمېدو وروسته په طبیعي توګه باید د دې نظام بچونی هم ختم وای. د روسیې حکومت ادعا لري، چې له روسیې نه یې پانګوالي نظام له منځه وړی دی. خو د حیرانتیا خبره ده، چې مذهب اوس هم هلته ژوندی دی. تر دې چې د روسیې په نوي نسل کې مذهب یو ځل بیا نمو پیل کړې ده.

په دې تړاو یوه دلچسپه واقعه هغه ده، چې په ۱۹۷۳ کې په هندوستان کې پېښه شوه. یوه روسي الوتکه د هندوستان د لویدیځ بنګال په فضا کې الوتله، چې ماشین یې کار پرېښود. د پیلوټ ټول کوششونه ناکام شوو او الوتکه په ځمکه راپرېوته. د پیلوټ په ګډون ټول مسافر وسوځېدل او له منځه لاړل.

دا چې دا پېښه د هندوستان په ځمکه شوې وه، د همدې لپاره د بین المللي قوانینو له مخې هندوستان باید د پېښې په تړاو پلټنې کړې وای. د الوتکو اصول دی، چې د اواز د ثبتولو یو خودکار ماشین هم په کې نصببیږي، چې عموما د (Black Box) په نوم یې پیژني. دغه تور بکس د پیلوټ او کنټرول مرکز ترمنځ خبرې اترې ثبتوي. دغه بکس د الوتکې په لکۍ کې نصب شوی وي تر څو د الوتکې له سوځېدو وروسته هم خوندي پاتې شي.

هندوستاني افسرانو له سوځېدلې الوتکې نه دا تور بکس را پیدا کړ. چې کله د دې بکسې پیته وغږول شوه، تر څو د پلټنې په برخه کې مرسته ورنه واخلي، نو معلومه شوه، چې په بالکل په وروستیو شېبو کې چې د روسي پیلوټ له خولې کومه کلمه وتلې وه، هغه دا وه:

**Peter Save Us!**

**(سېنټ پیټره! موږ وژغوره!)**

واضح دې وي، چې پیټر یا پطرس د حضرت عیسی علیه السلام له دوولسو حواریانو څخه یو حواري و او د عیسویانو په نزد ډېر لوی بزرګ منل کېږي.

**۵–** څوک پوهېدل، چې د سټالین خپله لور سویتلانه به تر ده وروسته عیسوي مذهب ومني. سویتلانه له کمونیستي دنیا نه ناهیلې شوه او هندوستان ته یې رامخه کړه. دا هم کېدی شوی، چې کوم هندوستاني مذهب ته یې پناه وړې وای. خو زموږ واکمنو ته د هغې په هند کې استوګنه د هند – روسیې د ملګرتیا خلاف ښکاره شوه. همدا وه، چې دې اروپا ته مخه کړه او هلته یې عیسویت ته غاړه کېښوده.

سویتلانه په خپل کتاب، یوازې یو کال ( Only One Year) کې لیکي، چې ما په ماسکو کې لا خپل اطمینان له لاسه ورکړی و او د خپل زړه د تسکین لپاره د یو څه په تلاش کې وم او هغه (یو څه) مې په بایبل کې په دې جملو کې وموندل:

**خدای زما رڼا او زما نجات دی، زما یې له چا وېره؟**

**خدای زما د ژوند ټیکاو دی، زما یې له چا ترهه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که زما په خلاف لښکرې راټولې وي**

**زما زړه به ونه وېرېږي.**

**که زما پر وړاندې جګړه ونښلي،**

**بیا به هم زما زړه ډاډه وي.**

(زبور: ۲۷)

**۶–** په نننۍ روسیه کې د دغه کیفیت شواهد په کثرت سره په لیدو کې راځي. سولژنتسین او سخاروف د همدې روحاني کشمکش یو سمبول دي. سولژنتسین ته که د نوبل جایزې د اخیستو اجازه ورکول شوې وای، نو هغه به دا مبلغ د روسي ولس لپاره د یوې کلیسا په جوړولو لګولې وې. د سولژنتسین له یوه نیږدې ملګري ویلتري پیني نه پوښتنه وشوه، چې د روسي سلطنت تر ټولو کمزوری اړخ څه دی. هغه بې له ځنده ځواب ورکړ:

THE HUNGER OF ORDINARY PEOPLE FOR MORAL AND SPIRITUAL TRUTH

**(د عام انسان دا لوږه چې اخلاقي او روحاني حقیقت ته ورسېږي.)**



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**